فَاذْكُرُونِي أَذْكُرْكُمْ وَاشْكُرُواْ لِي وَلاَ تَكْفُرُونِ

# ورځني مسنونه

# اذکار

## (فضائل،آداب اواحکام)



مؤلف: حمدالله «شاکری»

Download From; Aghalibrary.com




*Download From; Aghalibrary.com*

## لړلیک

**لومړی فصل ....................................................................5**

د ذکر فضیلت ، ګټې او آداب.................................................5

اول - په قرآن کې د ذکر فضائل...........................................5

دوهم - په سنتو کې د ذکر فضیلت .......................................9

د ذکر فوائد او ګټې .............................................................13

د ذِکر تعریف .........................................................................17

د ذکر کثیر څخه مطلب څه دی ؟ ........................................17

د ذکر آداب ...........................................................................19

د ذِکر مراتب .........................................................................21

د تسبیحاتو ویلو طریقه......................................................22

**دوهم فصل ..................................................................24**

مطلق او مقید اذکار .............................................................24

د سبا او بیګا اذکار ..............................................................24

د ماښام یا بیګا اذکار..........................................................34

د اوداسه اذکار......................................................................38

د آذان اذکار .........................................................................39

د جومات اذکار .....................................................................40

د لمانځه وروسته اذکار ......................................................41

د لمانځه نه وروسته اذکارو خلاصه .....................................44

کور ته د ننوتلو او وتلو اذکار .............................................45



*Download From; Aghalibrary.com*

د خوراک اذکار ........................................................ 46
د قضای حاجت اذکار ................................................. 47
د خوب اذکار............................................................ 47
د عطسه (پرنجیدلو ) دعا ............................................ 48
د بازار اذکار ............................................................ 48
د سفر اذکار ............................................................. 49
د باران غوښتلو دعا .................................................. 52
د قبر د زیارت دعا..................................................... 52
د مریض د عیادت (پوښتنې ) دعا ................................ 53
د واده کولو یا سپرلۍ اخیستلو دعا............................. 53
د جامې اغوستلو دعا .................................................. 53
د میاشتې د لیدلو دعا.................................................. 54
د مجلس د ختم دعا..................................................... 55
د خپلې بی بی سره د کورواله کولو په وخت کې دعا.............. 55
د علم د طلب دعا....................................................... 55
د خطرناکو امراض د وقایې دعا ................................... 56
د شرک نه د نجات دعا ............................................. 56
د دوښمن سره د مخامخ کیدو دعا............................... 56
د چرګ ،خره او سپي د آواز په وخت کې دعا ................. 56
د قهر او عصې په وخت دعا........................................ 57
د پور یا قرض نه د نجات دعا .................................... 57



Download From; Aghalibrary.com

د ایمان د ثبات دعا ........................................................ 58
د هدایت دعا.......................................................................... 58
د غم او پریشانی دعا.................................................................. 59
د هر کار په پیل کې «بسم الله » ویل........................................... 59
**دریم فصل.......................................................................... 60**
مطلق (غیر مقید ) اذکار ........................................................... 60
د قرآن کریم تلاوت ................................................................ 60
د قرآن تلاوت د غفلت څخه نجات دی:........................................ 62
د «لا اله الا الله » ذکر ................................................................. 62
د «سبحان الله وبحمده ، سبحان الله العظیم » ذکر ........................... 63
د « لا حول و لا قوة » ذکر.......................................................... 64
د «لا إله إلا الله، وحده لا شریك له ...» ذکر .................................. 65
«استغفار » ویل ...................................................................... 66
اسماء الحسنی ........................................................................ 67
اسم اعظم............................................................................ 68
درود شریف .......................................................................... 70
**څلورم فصل........................................................................ 74**
د اذکارو په باره کې څو مسائل ................................................... 74
جهري ذکر کول څه حکم لري ؟.................................................. 74
جماعي (ډله ییز ) ذکر کول څه حکم لري ؟.................................... 75
د ذکر او مناجاتو سره د موسیقی د آلاتو ږغول څه حکم لري ؟ .......... 76



*Download From; Aghalibrary.com*

په شریکه د قرآن ختم څه حکم لري ؟ ................................................77

*Download From; Aghalibrary.com*

## لومړی فصل

## د ذکر فضیلت ، ګټې او آداب

### اول - په قرآن کې د ذکر فضائل

۱- ذکر کول د الله تعالی د حکم پر ځای کول دي :

الله سبحانه وتعالى فرمايي: [وَاذْكُر رَّبَّكَ فِي نَفْسِكَ تَضَرُّعاً وَخِيفَةً وَدُونَ الْجَهْرِ مِنَ الْقَوْلِ بِالْغُدُوِّ وَالآصَالِ وَلاَ تَكُن مِّنَ الْغَافِلِينَ] (الأعراف:۲۰۵).

ژباړه: او خپل رب په خپل زړه کې (له ځانه سره ) په زارۍ او وېره ، نه په لوړ آواز په سبا او بیګا کې یاد کړه او له غافلانو څخه مه کیږه .

۲- د ذکر کوونکو لپاره مغفرت او لوی اجر (جنت) دی :

الله سبحانه وتعالى فرمايي: [وَالذَّاكِرِينَ اللَّهَ كَثِيراً وَالذَّاكِرَاتِ أَعَدَّ اللَّهُ لَهُم مَّغْفِرَةً وَأَجْراً عَظِيماً] (الأحزاب:۳۵).

ژباړه: او د الله ډیر ډیر یادوونکي (نارینه ) او یادونکې (ښځې ) الله تعالی دغو ټولو ته بخښنه او لویه بدله چمتو کړې ده .

۳- الله تعالی په ذکر کوونکو رحمت نازلوي او ملائکې د هغوی لپاره دعا او ښښنه غواړي :

الله سبحانه وتعالى فرمايي: [يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اذْكُرُوا اللَّهَ ذِكْرًا كَثِيرًا * وَسَبِّحُوهُ بُكْرَةً وَأَصِيلاً ] (الاحزاب :۴۱،۴۲).



Download From; Aghalibrary.com

ژباړه: ای مؤمنانو ! الله پاک په ډیر ډیر یادولو سره یادوئ ، او په سبا او بیګا کې د هغه تسبیح وایئ .

وروسته فرمایي : [هُوَ الَّذِي يُصَلِّي عَلَيْكُمْ وَمَلَائِكَتُهُ لِيُخْرِجَكُم مِّنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّورِ وَكَانَ بِالْمُؤْمِنِينَ رَحِيمًا] (الاحزاب: ۴۳ ) .

ژباړه: دی هغه (ذات ) دی چې پر تاسې درود استوي او پرښتې يې هم ، څو تاسې له تيارو څخه روښنايي ته را وباسي .او ( الله ) پر مؤمنانو ډير لورونکی دی .

ابن عباس رضی الله عنه وايي چې په دې امت باندې د الله تعالی د جانبه د لويو نعمتونو څخه يو دا نعمت دی چې پر مؤمنانو باندې درود (رحمت ) استوي ، د الله تعالی درود د رحمت او برکت په معنی دی او د ملائکو درود د دعا او بښنې معنی لري .

وهذه نعمة من الله تعالى على هذه الأمة من أكبر النعم، ودليل على فضلها على سائر الأمم. وقد قال: "كنتم خير أمة أخرجت للناس" [آل عمران: ١١٠]. والصلاة من الله على العبد هي رحمته له وبركته لديه. وصلاة الملائكة: دعاؤهم للمؤمنين واستغفارهم لهم.(تفسير القرطبي سوره الاحزاب ).

۴- د الله تعالی ذکر او عبادت د زړه او روح د اطمنان او داډ يوازنی وسيله ده :

لقوله سبحانه وتعالى :[الَّذِينَ آمَنُواْ وَتَطْمَئِنُّ قُلُوبُهُم بِذِكْرِ اللهِ أَلاَ بِذِكْرِ اللهِ تَطْمَئِنُّ الْقُلُوبُ] (رعد: ٢٨)

ژباړه: هغه کسان چې ايمان يي راوړی او زړونه يي د الله پاک په ياد آراميږي ،خبر شئ چې د الله تعالی په يادښت زړونه ډاډمن کيږي .



Download From; Aghalibrary.com

۵- ذکر او عبادت اصلاً شکر دی او د هغه څخه مخ اړول کفران او ناشکري د .

[فَاذْكُرُونِي أَذْكُرْكُمْ وَاشْكُرُواْ لِي وَلاَ تَكْفُرُونِ] (البقره: ۱۵۲ ) .

ژباړه : نو ما یاد کړئ ( په ذکر، اطاعت او عبادت ) سره چې زه (هم) تاسې یاد کړم ( په ثواب او نعمت ) او زما شکر او باسئ او نا شکري مه کوئ .

د جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه روایت نقل شوی دی چې :

«من أطاع الله فقد ذكر الله ... ومن عصى الله فقد نسي الله» (رواه البيهقي: ۳۹۳/۱).

یعنې : چا چې د الله تعالی عبادت وکړ هغه الله تعالی یاد کړ ، او چا چې د الله تعالی نافرماني وکړه هغه الله تعالی هیر کړ .

سعید بن جبیر وایي : ذکر د الله تعالی عبادت دی نو څوک چې عبادت نه کوي هغه ذکر نه کوي .

عبدالله بن وهب له هشام بن سعید او هغه له زید بن أسلم څخه روایت کوي چې : موسی علیه السلام وویل : یا ربه ! څنګه ستا شکر ادا کړم ، رب (جل جلاله ) هغه ته وفرمایل : زما ذکر کوه (ما یاد ساته ) او ما مه هیروه .(تفسیر القرطبي ۱۷۱/۲ ، تفسیر ابن کثیر ۴۶۴/۱ ).

۶- ذکر د الله تعالی د نیکو او خاصو بنده ګانو صفت دی:

[يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لاَ تُلْهِكُمْ أَمْوَالُكُمْ وَلاَ أَوْلاَدُكُمْ عَن ذِكْرِ اللَّهِ وَمَن يَفْعَلْ ذَلِكَ فَأُوْلَئِكَ هُمُ الْخَاسِرُونَ] (المنافقن :۹) .



Download From; Aghalibrary.com

ژباړه : ای مؤمنانو ! تاسو دې د الله له ذکر نه نه خپل مالونه غافله کړي او نه خپل اولادونه۔ او هغه څوك چې دا کار وکړي، نو همدغه زيانکاران (تاوانيان) دي.

او فرمايي :[رِجَالٌ لَا تُلْهِيهِمْ تِجَارَةٌ وَلَا بَيْعٌ عَنْ ذِكْرِ اللَّهِ وَإِقَامِ الصَّلَاةِ وَإِيتَاءِ الزَّكَاةِ يَخَافُونَ يَوْمًا تَتَقَلَّبُ فِيهِ الْقُلُوبُ وَالْأَبْصَارُ](سورة النور الآية: ٣٧).

ژباړه : هسې سړي يې ثنا او صفت وايي چې تجارت او راکړه ورکړه يې د الله له يادولو د لمانځه له ودرولو ، د زکات له ورکولو څخه نه بې پروا کوي له هغې ورځې نه ډاريږي چې زړونه پکې اوړي را اوړي او سترګې رډې خيږي.

٧- ذکر د الله تعالی د مدد او نصرت وسيله ده :

[يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ إِذَا لَقِيتُمْ فِئَةً فَاثْبُتُواْ وَاذْكُرُواْ اللّهَ كَثِيرًا لَّعَلَّكُمْ تُفْلَحُونَ] (الانفال: ٤٥ ) .

ژباړه : ای مؤمنانو ! کله چې د دوښمن د کومې ډلې سره مخ شوئ نو ښې مو کلکې کړئ او الله پاک ډير يادوئ ښايي چې برى مو په برخه شي .

٨- د الله تعالی د ذکر څخه غفلت هلاکت او ستره بدبختي ده :

الله سبحانه وتعالی فرمايي: [ وَمَنْ أَعْرَضَ عَنْ ذِكْرِي فَإِنَّ لَهُ مَعِيشَةً ضَنْكًا وَنَحْشُرُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَعْمَى ] (طه: 124).

ژباړه : او چا چې زما له (ياد، عبادت ، او أمر) څخه مخ واړاوه ، نو بې شکه چې د هغه ژوند به تنګ وي او مونږ به هغه د قيامت په ورځ ړوند را پاڅوو .



*Download From; Aghalibrary.com*

او فرمـايي: [فَوَيْـلٌ لِلْقَاسِـيَةِ قُلُـوبُهُمْ مِـنْ ذِكْـرِ اللَّهِ أُولَئِـكَ فِي ضَـلالٍ مُبِـينٍ] (الرمز:٢٢).

ژباړه : پس هلاكت دى هغو كسانو ته چې د هغوى زړونه د الله له ذكره سخت دي، دغه كسان په ښكاره ګمراهۍ كې دي.

او فرمـايي: [وَمَـنْ يَعْـشُ عَـنْ ذِكْـرِ الـرَّحْمَنِ نُقَـيِّضْ لَـهُ شَـيْطَاناً فَهُـوَ لَـهُ قَـرِينٌ] (الزخرف:٣٦).

ژباړه: او هر هغه څوك چې د رحمٰن له ذكر نه اعراض كوي (سترګې پټوي)، (نو مونږ به په ده باندې يو شيطان مسلط كړو، نو هغه به له ده سره تل ملګرى وي.

## دوهم - په سنتو كې د ذكر فضيلت

١- الله تعالى د نږېوالي وسيله :

له ابى هريره رضى الله عنه څخه روايت دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي:«يَقُولُ اللَّهُ تَعَالَى: أَنَا عِنْدَ ظَنِّ عَبْدِي بِي، وَأَنَا مَعَهُ إِذَا ذَكَرَنِي، فَإِنْ ذَكَرَنِي فِي نَفْسِهِ ذَكَرْتُهُ فِي نَفْسِي، وَإِنْ ذَكَرَنِي فِي مَلإٍ ذَكَرْتُهُ فِي مَلإٍ خَيْرٍ مِنْهُمْ، (البخاري )

ژباړه: د الله (جل جلا له) ارشاد دى : چې زه خپل بنده سره هغسې معامله كوم څنګه چې دى په ما باندې ګمان كوي او كله چې دى ما يادوي نو زه ده سره يم ، كچيرې دى ما پخپل زړه كې يادوي زه هم دى په خپل زړه كې يادوم او كچيرې دى ما په مجلس او ټولي كې يادوي زه يې د هغه نه غوره ډله چې پرښتې دي يادوم .



Download From; Aghalibrary.com

٢- ذكر د بنده درجې لوړوي :

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي : « سبقَ الْمُفَرِّدُونَ » قالوا: ومَا الْمُفَرِّدُونَ يا رسُول اللَّه؟ قال: « الذَّاكِرُونَ اللَّه كَثيراً والذَّاكِراتُ » (رواه مسلم).

ژباړه : مخكې شول مفردون ، (صحابه كرامو) وويل : يا رسول الله مفردون څوک دي ؟ وېي فرمايل : د الله تعالى زيات ذكر كوونكي نارينه او ښځې .

٣- ذكر د زړه احساس ژوندى كوي :

له ابى موسى الأشعري رضى الله عنه څخه روايت دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي:«مَثَلُ الذي يَذكُرُ ربَّهُ وَالذي لا يذكُرُه، مَثَل الحيِّ والميِّتِ » (رواه البخاري).

ژباړه: مثال د هغه چا چې د الله (جل جلا له) ذكر كوي او هغه چې غافله وي له ياد د الله تعالى څخه داسې دى لكه ژوندى او مړ .

تشريح : په ذكر سره د زړه احساس ژوندى كيږي چې معروف (نيک كار ) او منكر (بد كار ) ، حق او باطل پيژني او كله چې د زړه احساس مړ شي نه نيک كار پيژني او نه هم د بد كار څخه د انكار كولو كوم احساس پكې وي او نه هم د حق او باطل تر منځ فرق كولاى شي .

٤- په ذكر مشغول اوسيدل د صالحانو عمل دى :

عبدالله بن بسر رضى الله عنه وايي چې يو سړي رسول الله صلى الله عليه وسلم ته وويل :



Download From; Aghalibrary.com

إنَّ شَرائِعِ الإسْلامِ قَدْ كَثُرتْ علَي، فَأخبرْني بِشيءٍ أتشَبَّثُ بهِ قال: « لا يَزالُ لِسَانُكَ رَطْباً مِنْ ذِكْرِ اللَّهِ » ( احمد ، الترمذي باسناد حسن ) .

ژباړه: (يا رسول الله !) د اسلامې شريعت احكام ډير دي ما ته داسې شی را وښيه چې زه هغه خپل دستور او مشغله جوړ كړم رسول الله صلى الله عليه وسلم ور ته وفرمايل : د الله پاک په ذكر هر وخت رطب اللسان اوسه (ژبه دې د الله پاک په ذكر لمده او مشغوله ساته ) .

تشريح : يعنې په هر حالت كې د الله تعالى په ذكر باندې مشغول اوسيدل د صالحانو عمل دی ، لقوله سبحانه وتعالى :[الَّذِينَ يَذْكُرُونَ اللَّهَ قِيَاماً وَقُعُوداً وَعَلَى جُنُوبِهِمْ وَيَتَفَكَّرُونَ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ رَبَّنَا مَا خَلَقْتَ هَذَا بَاطِلاً سُبْحَانَكَ فَقِنَا عَذَابَ النَّارِ ].

٥- ذكر د الله تعالى د عذاب څخه د نجات وسيله ده :

معاذ بن جبل رضى الله عنه وايي يو سړي رسول الله صلى الله عليه وسلم ته وويل : « مَا عَمَلَ آدَمِيٌّ عَمَلاً أَنْجَى لَهُ مِنْ عَذَابِ اللَّهِ مِنْ ذِكْرِ اللَّه» (صحيح الجامع ٥٦٤٤ ، لترغيب والترهيب ٣٢٧/٢ ) .

ژباړه: د الله تعالى د ذكر نه زيات دچا بنيادم هيڅ عمل د عذاب قبر نه زيات نجات وركونكى نشته.

٦- د ذكر او عبادت پرته دنيا ملعونه ده :

لـه ابی هریره رضی الله عنه څخـه روایـت دی چې رسـول الله صلی الله علیـه وسـلم فرمايلي:

« الدُّنْيَا ملْعُونَة، ملْعُونٌ ما فِيهَا، إلاَّ ذِكرَ اللَّه تَعَالى ، وما والاَه، وعَالما، أوْ مُتَعلِّماً » (رواهُ الترمذيُّ وقال: حديثٌ حسنٌ).

ژباړه : دنيا معلونه ده او څه چې په هغه کې دي ملعون دي ، پرته د الله تعالی له ذکر او عبادت ، عالم او متعلم ( د علم زده کول او بل ته ورښودل ) .

تشـريح : د انسـان د پيدايښـت هـدف د الله تعـالی عبـادت دی ، ځمکـه او د هغـه مربـوط کائنـات د انسـان لپاره مسخر شـوي دي ، څـو پـورې چې پـه دنيـا کې يـو مـؤمن هـم وي او هغـه د الله تعـالی ذکـر کـونکی او عبـادت کـونکی وي نـو موجـوده هستي بـه هـم وي مګـر کلـه چې د ځمکې لـه مخ څخـه د الله تعـالی ذکـر او يـاد ختـم شي نو بيا به دا هستی هم رنګه او له منځه لاړه شي .

۷- د ذکر پرته ژوند تيرول نقصان او خسران دی :

لـه ابی هريره رضی الله عنه څخـه روايـت دی چې رسـول الله صلی الله عليـه وسـلم فـرمايلي:

:« مَنْ قعَدَ مَقْعَداً لـم يَذْكُرِ الله تعالى فِيهِ كَانَت عليه مِنَ الله تـرَة، وَمَن اضـطجَعَ مُضْطَجَعاً لايَذْكرُ الله تعالى فيه كَانتْ عَليْه مِنَ اللّه ترَةٌ» (رواه أبو داود).

ژباړه : څوک چې کوم ځای کيناستو چې هلته يې د الله تعالی ذکـر پکې ونه کړو، دا (عمل) د الله تعالی د ناخوښی ملامتيا ده ، او څـوک چې کوم ځـای کې ډه ډه لګولي وي (څملاستلی وي) او د الله تعالی ذکـر يې پکې نه وي کړی نـو دا هـم د خسـارې ، نقصان او د الله تعالی د خفګان سبب دی

٨- ذكر د شيطان د شر څخه د نجات وسيله ده :

جناب نبي كريم صلى الله عليه و سلم فرمايي : «إذا دخل الرجل بيته فذكر الله عـز و جل عند دخوله و عند طعامه قال الشيطان: لا مبيت لكم و لا عشاء. فإذا دخل ولم يذكر الله قال: أدركتم المبيت. و إن لم يذكر الله عند طعامه قال الشيطان: أدركتم المبيت و العشاء»

ژباړه: كله چې سړى كور ته د داخليدو په وخت كې او د خوراک په وخت كې الله ياد كړي نو شيطان وايي: تاسې لره نه تخت شته او نه شپه.

او كله چې داخل شي او الله تعالى ياد نه كړي نو وايي: تخت او استراحت ځاى مې پيدا كړ، او كه د خوراک په وخت كې الله ياد نه كړي شيطان وايي: تخت او شپه مې پيدا كړل (د شپې تيرولو ځاى مې پيدا كړ).

## د ذكر فوائد او ګټې

په ذكر كې تر سلو زياتې ګټې دي چې ابن القيم رحمه الله پخپل كتاب "الوابل الصيّب" كې ذكر كړې دي چې ځينې يې په لاندې ډول دي :

١- د الله تعالى رضا او خوښي.

٢- د غم او پريشانى لريوالى د خوښى او خوشحالى راوستل .

لقولـه سبحانه وتعالى :[الَّذِينَ آمَنُواْ وَتَطْمَئِنُّ قُلُوبُهُم بِذِكْرِ اللّهِ أَلاَ بِذِكْرِ اللّهِ تَطْمَئِنُّ الْقُلُوبُ] (الرعد: ٢٨)

۳- د زړه ، بدن او ایمان قوت ، زړه ته د الله (جل جلا له) د طرف نه د علم د دروازو پرانیستل .

۴- د زرق پراخي ، پس ذکر د دروازو پرانیستونکی دی .

۵- د ژبې مشغولیدل ، له غیبت او بې ګټې خبرو څخه نجات .

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: « لا تُكْثِرُوا الكَلامَ بغَيْرِ ذِكْرِ اللَّه، فَإنَّ كَثْرَةَ الكَلامِ بِغَيْرِ ذِكْرِ اللَّه تَعالَى قَسْوةٌ لِلْقَلْب،وإنَّ أبْعَدَ النَّاسِ مِنَ اللَّهِ القَلبُ القَاسي » . (رواه الترمذي).

ژباړه : د الله تعالی د ذکر پرته ډېرې خبرې مه کوئ ، ځکه د الله تعالی د ذکر پرته ډیرې خبرې د زړه د کلکوالی سبب کیږي ، او الله تعالی ته په خلکو کې تر ټولو لرې کس سخت زړی سړی دی.

۶- ملائکې د ذکر کونکو د پاره مغفرت غواړي .

لقوله سبحانه وتعالی: [وَيَسْتَغْفِرُونَ لِلَّذِينَ آمَنُوا] (غافر:۷).

ژباړه: او د مؤمنانو لپاره بخښنه غواړي .

۷- د زړه ژوندې کیدل او د نفاق څخه نجات .

۸- ذکر کونکی الله (جل جلا له) ته محبوب دی او دی به خلکو ته محبوب وي .

۹- د ګناهونو محو او نابودي ځکه ذکر لویه نیکه ده او نیکې بدي له منځه وړي.

۱۰- د الله (جل جلا له) د عذاب څخه نجات لکه څنګه چې معاذ مرفوعاً روايت کوي :

«ما عمل آدميّ عملاً أنجى له من عذاب الله عز وجل من ذكر الله تعالى» (رواه الإمام أحمد، وصححه المنذري في الترغيب، و صحيح الجامع) .

ژباړه : هيڅ عمل انسان ته د الله د عذاب دومره نجات ورکونکی نه دی لکه ذکر .

۱۱- د قيامت په ورځ د پښېمانتيا نه نجات ځکه هغه وخت او مجلس چې په دنيا کې بغير له ذکر تير شوی وي سړی په به هغه باندې افسوس کوي .

۱۲- ذکر نظر نورو عباداتو ته آسانه دی او فضليت يې زيات دی .

۱۳- ذکر کونکي لره نور دی په دنيا کې نور دی په قبر کې او نور دی په حشر کې او نور دی پر پل صراط باندې.

۱۴- د زړه بيداري او د ايمان زياتوالی او قوت :

الله سبحانه وتعالی فرمايي:[إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ إِذَا ذُكِرَ اللّهُ وَجِلَتْ قُلُوبُهُمْ وَإِذَا تُلِيَتْ عَلَيْهِمْ آيَاتُهُ زَادَتْهُمْ إِيمَاناً وَعَلَى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ](الأنفال:۲).

يعني : يقيناً مؤمنان هغه کسان دي چې کله الله پاک ياد کړ شي د دوی زړونه له (الله ) څخه وېرېږي او کله چې د الله پاک آيتونه پرې ولوستل شي نو د دوی ايمان لا پياوړی کوي او دوی پر خپل رب توکل کوي .

۱۵- ذکر د زړه شفا او درملنه ده او غفلت د زړه مرض دی نو خپل زړونه د الله (جل جلا له) په ذکر تداوي کړئ.

۱۶- ډیر ذکر کول هغه که په لاره وي ، کور کې وي او سفر کې وي هغه ځایونه به د قیامت په ورځ په بنده باندې شاهدان وي .

۱۷- د زړه او مخ نوراني کیدل .

۱۸- په تنهایی کې د ذکر پر مهال ژړا کوونکی د قیامت په ورځ د عرش تر سیورې لاندې وي .

۱۹- د هېرې او غفلت څخه نجات .

۲۰- د شیطان د شر څخه نجات .

۲۱- د دوښمنانو پر وړاندې د نصرت وسیله .

۲۲- ذکر د شکر رأس دی چا چې ذکر وکړ هغه شکر ادا کړ .

۲۳- ذکر کول د زهد سبب ګرځي ، چې انسان ته له حب دنیا څخه نجات ورکوي او د آخرت طرف ته یې متوجه کوي .

۲۴- ذکر د زړه سختوالی له منځه وړي .

۲۵- د برکت د نزول سبب ګرځي .

۲۶- مشکلات او سختی کموي او د کارونو د آسانی سبب کرځي .

۲۷- د زړه د قوت سبب ګرځي .

۲۸- د الله تعالی په نزد غوره کس هغه دی چې ژبه یې په ذکر لمده وي .

۲۸- د زړه اراده او عزم قوي کوي .

۲۹- زړه غني ګرځوي او له حاجت څخه نجات ورکوي .

## د ذِکر تعريف

ذِکر په لغت کې يادول ، ثنا او صفت ، لمونځ ، دعا ، شکر ، اطاعت ، د قرآن قرائت ، تسبيح او تمجيد ته وايي .

په اصطلاح کې دوې معناوې لري عام او خاص .

الف)عام : شامليږي ټولو عباداتو لره لکه : لمونځ ، زکات ، روژه ، حج ، جهاد ، أمر بالمعروف او نهی عن المنکر ، د قرآن تلاوت، تسبيح ، تمجيد ، د الله تعالى په قدرتونو کې فکر کول ، د علم شرعي حاصلول ، د منکراتو او ناروا څخه ځان ساتل ذکر بلل کيږي .

ب )خاص : په داسې الفاظو د الله تعالى ذکر کول چې په کتاب الله او سنتو کې ثابت وي لکه : تسبيح ، تمجيد او ټول مأثور اذکار کوم چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه ثابت شوي وي.

## د ذکر کثير څخه مطلب څه دی ؟

الله سبحانه وتعالى فرمايي:[الَّذِينَ يَذْكُرُونَ اللّهَ قِيَامًا وَقُعُودًا وَعَلَىَ جُنُوبِهِمْ وَيَتَفَكَّرُونَ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ] (آل عمران :١٩١ ) .

ژباړه: هغه کسان چې په ولاړه او ناسته او پر څنګ وهلي باندې الله پاک يادوي او د آسمانونو او ځمکې د پيدايښت (رازونو ) کې فکر کوي .

[وَالذَّاكِرِينَ اللَّهَ كَثِيرًا وَالذَّاكِرَاتِ أَعَدَّ اللَّهُ لَهُم مَّغْفِرَةً وَأَجْرًا عَظِيمًا] (الاحزاب) .

ژباړه: او د الله ډير ډير يادوونکي (نارينه ) او يادونکې (ښځې ) الله پاک دغو ټولو ته بخښنه او لويه بدله چمتو کړې ده .

[يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اذْكُرُوا اللَّهَ ذِكْرًا كَثِيرًا * وَسَبِّحُوهُ بُكْرَةً وَأَصِيلاً ] (الاحزاب: ۴۱-۴۲ ).

ای مؤمنانو ! الله پاک په ډیر ډیر یادولو سره یادوئ ، او په سبا او بیګا کې د هغه تسبیح وایئ .

**مجاهد رحمه الله وایي** : د زیات ذکر کولو حد دا دی چې انسان هر وخت په ولاړه ، ناستي ، څملاستو د الله پاک په ذکر مشغول وي .

**ابن صلاح رحمه الله وایي** : انسان چې سبا او بیګاه او هر وخت د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه ثابت اذکار او ماثورې دعا ګانې وایي او په هغه باندې همشوالی وکړي .

**ابن عباس رضی الله عنه** په تفسیر ددې آیت [وَالذَّاكِرِينَ اللَّهَ كَثِيرًا وَالذَّاكِرَاتِ]وایي : الله تعالی چې پر خپلو بندګانو کوم عبادات مقرر کړی دي د هغه د پاره یې یو حد ټاکلی دی مګر د ذکر او د الله پاک د یاد د پاره یې څه حد نه دی ټاکلی همدارنګه په نورو عباداتو کې د معذور احوال هم په نظر کې نیول شوی دي مګر د ذکر په باره کې څوک مغذور نه شمیرل کیږي نو بنا پر دې د الله پاک ذکر او یاد په ولاړه ، ناسته ، څملاستو ، شپه او ورځ ، په وچه او بحر ، په سفر کې ، فقر او غنا په حال کې ،د ناروغۍ او جوړتیا په حال کې ،په پټه یا ښکاره په ټولو حالاتو کیدای شي .

لکه مخکې مو چې وویل ذکر په عامه معنی عبارت دی: د الله (جل جلا له) له یادولو څخه لکه عبادات ، د قرآن تلاوت ، په ټولو حالاتو کې د الله تعالی یاد ساتل مثلاً په کار او معاملاتو کې د الله تعالی او د هغه د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د اوامرو یاد ساتل او په هغه باندې عمل کول او د الله تعالی په مخلوق او

قدرتونو کې فکر کول ، الله تعالی ته د ورتګ او فنا کیدو فکر کول او تسبیح ، تهلیل او تمجید او هغو دعاګانو او اذکارو ذکر کول کوم چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه ثابت شوی وي ټول ذکر او د الله تعالی یاد او ذکر بلل کیږي او واقعاً چې مسلمان هر وخت د الله (جل جلا له) په ذکر کې مشغول وي او زړه یې د هغه (جل جلاله) د یاد سره تړلی وي . (فقه السنة ) .

## د ذکر آداب

الله سبحانه وتعالی فرمایي : [وَاذْكُر رَّبَّكَ فِي نَفْسِكَ تَضَرُّعاً وَخِيفَةً وَدُونَ الْجَهْرِ مِنَ الْقَوْلِ بِالْغُدُوِّ وَالآصَالِ وَلاَ تَكُن مِّنَ الْغَافِلِينَ] (الأعراف:۲۰۵) .

ژباړه: او خپل رب په خپل زړه کې (له ځانه سره ) په زارۍ او وېره ،او په ټیټ نه په لوړ آواز په سبا او بیګا کې یاد کړه او له غافلانو څخه مه کیږه .

په پورته آیت کریمه کې د ذکر لپاره اووه آداب بیان شوي دي :

**اول** – اخلاص :ذکر عبادت دی او د هر عبادت د قبول لپاره دوه شرطونه دي :

الف): اخلاص لله ، یعنې عبادت به خاص د الله تعالی لپاره وي د ریا ، شرک او منافقت څخه پاک وي .

ب ): اتباع رسول الله ، عبادت به د رسول الله صلی الله علیه وسلم په طریقه ادا کړي .

**دوهم** – تضرع ، سکون او اطمنان او د بیړې او تیزی ترک کول .

**دریم** – په زړه کې د الله تعالی نه (خوف او رجاء) او د هغه د اسماء او صفاتو احترام او عظمت .

**څلورم** – ذکر به د جهر (په زوره ) او خفيه (په ورو ) تر منځ وي ، يعنې په دومره اندازه چې په غوږونو سره د ذکر الفاظ وارويدل شي .

په موسوعة الفقهيه کې راغلي : فَيَنْبَغِي أَنْ لا يَجْهَرَ بِالذِّكْرِ فَوْقَ مَا يُسْمِعُ نَفْسَهُ ؛ لأَنَّ ذَلِكَ أَقْرَبُ لِلْخُشُوعِ وَأَبْعَدُ مِنَ الرِّيَاءِ.

يعنې : ښايي چې ذکر په زوره نه وي بلکې دومره اندازه چې خپله يې سړي واروي ځکه دا خشوع ته لنږ او د رياء څخه لرې دی.

**پنځم** – دا چې ذکر به په زړه او ژبه سره وي .

**شپږم** – ذکر به د سبا او ماښام په وخت کې وي ځکه چې دغه وخت زړه له دنيوي مشغلوتياوو فارغ وي .

**اوم** – د زړه حضور ،ذکر به د زړه په يقين او حضور سره وي ، ډير خلک د تدبر او د زړه له حضور څخه غافله وي .

د سيد الاستغفار په حديث کې راغلي «من قالها مؤقناً بها» ( څوک چې په يقين او حضور سره وايي).

د تدبر او د زړه له حضور څخه خالي زړه سره ذکر کول داسې دی لکه يو مريض چې درمل واخلي خو د هغه د خوراک په اندازه او وخت نه پوهيږي نو د هغه به څه فائده وي ؟

ذکر کوونکی به د ذکر پر مهال تدبر او حضور لرونکی وي او په دې به پوهيږي چې څه وايم .

ډير كسان داسې دي چې كله درسره خبرې كوي او يا ستا خبرو ته غوږ وي نو د هغه په لاس كې تسبيح وي او ذكر كوي ، نه پوهيږم چې دا څنګه ذكر دى ؟ غوږ دې چيرې ، فكر دې چيرې او څه وايي ؟

## د ذِكر مراتب

افضل ذكر هغه دى چې په زړه ، ژبه او اندامونو سره وي لكه : لمونځ .

بيا هغه ذكر چې په ژبه او زړه يعنې د زړه حضور او تدبر سره وي لكه : د قرآن تلاوت ، تسبيحات .

او د ژبې پرته يوازې د زړه ذكر لكه : د الله تعالى په قدرتونو كې تفكر كول ، خوف ، رجاء او نور .

او كچيرې د تدبر ، فكر او د زړه د حضور پرته يوازې په ژبه باندې ذكر وشي ثواب لري د ذكر د مراتب څخه يو مرتبه ده ځكه ژبه په حق باندې مشغوله وي .

آيا د قرآن تلاوت افضل او كه تسبيحات ، تهليل او تكبير ويل ؟

ځواب : د قرآن تلاوت افضل ذكر دى .

په دليل د دغه حديث شريف :

«أفضل الكلام بعد القرآن أربع وهى من القرآن لا يضرک بأيهن بدأت : سبحان الله ، و الحمدلله ، ولا اله الا اللله ، و الله أكبر» (رواه ، احمد ، مسلم و ابن حبان ).

يعني : د قرآن څخه غوره کلام دا څلور دي چې له قرآن څخه دي : «سبحان الله ، و الحمدلله ، و لااله الا الله ، و الله أکبر » باک نه کوي چې هرې يوې تسبيح څخه پيل وکړې ( ترتيب پکې ضرور نه دى).

او همدارنګه مسنونه او مأثور اذکار پخپل وخت کې تر نورو اذکارو څخه غوره دي .

## د تسبيحاتو ويلو طريقه

هغه اذکار او تسبيحات چې په عدد سره مقيد شوي دي ، شميرل يې د ګوتو په بندونو باندې افضل دي ځکه چې ګوتې د قيامت په ورځ مسئولې او په بنده باندې ګواهي ورکوي .

په دليل د دغه حديث :« عليکن بالتسبيح و التهليل و التقديس ، و اعقدن بالأنامل ، فانهن مسؤولات مستنطقات » (رواه ابوداود و الترمذي ).

تسبيحات په دواړو لاسونو ښي او چپ سره جايز دى مګر په د ښي لاس په ګوتو باندې افضل دى .

والأمر في ذلك واسع ، ولا حرج في استعمال أنامل اليدين جميعاً كما هو ظاهر من حديث يسيرة المتقدم ، ولكن استعمال أنامل اليد اليمنى في ذلك أفضل ؛ لما تقدم (فتاوى اللجنة الدائمة ٧ / ١٠٥ – ١٠٧ ) .

د لاس د ګوتو پرته په تسبيح سره شميرل جايز دي او د تسبيح کارول بدعت نه دى ځکه تسبيح د ذکر د شميرلو وسيله ده . مګر د لاس د ګوتو په بندونو سره شميرل افضل دي (اذکار الصباح و المساء ص: ٣٥ ).

أَنَّ الْعَقْدَ بِالأَنَامِلِ أَفْضَلُ لا سِيَّمَا مَعَ الأَذْكَارِ بَعْدَ الصَّلاةِ ، أَمَّا فِي الأَعْدَادِ الْكَثِيرَةِ الَّتِي يُلْهِي الاشْتِغَالُ بِعَدِّهَا عَنِ التَّوَجُّهِ لِلذِّكْرِ فَالأَفْضَلُ اسْتِعْمَالُ السُّبْحَةِ (الموسوعة الفقهية ج ٢١ ص ٢٥٩).

## دوهم فصل

## مطلق او مقيد اذكار

اذكار په دوه ډوله دي مطلق او مقيد .

مطلق : هغه اذكار دي چې په خاص وخت او ځاى پورې تعين نه وي بلكي په ټوله ورځ كې ويل كيږي .

مقيد : هغه مأثور او مسنونه اذكار دي چې په خاص وخت او خاص ځاى كې د جناب رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه ثابت شوى دي .

اوس دغه مقيد مأثور او مسنونه اذكار بيانوو :

### د سبا او بيگا اذكار

صباح و المساء (سبا او ماښام ) كوم وخت دى؟

د صباح په باره كې مشهور قول دا دى چې د سبا ختلو څخه پيل تر لمر ختلو پورې دوام لري ، په دليل د دغه قول د الله تعالى : [وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ قَبْلَ طُلُوعِ الشَّمْسِ وَقَبْلَ الْغُرُوبِ] (ق : ٣٩ ).

او ځنې علماء كرام وايي د سبا ختلو څخه تر زوال پورې دوام لري.

او المساء (ماښام) د مازديكر د لمانځه څخه پيل تر ماښام يا لمر پرېوتلو پورې دوام كوي ،او ځنې علماء كرام وايي د مازديگر له لمانځه تر نيمې شپې پورې ، او ځينې علماء وايي د ماښام څخه تر صبح صادق (سبا ختلو ) پورې ، مگر قوي قول دا دى چې د مازديگر له لمانځه څخه تر ماښام پورې .

(أذكار الصباح و المساء ص ٦٥ / عبدالعزيز بن المرزوق).

**د صباح (سبا) او مساء (ماښام) اذكار**

**اول**- سبا سل ځله او ماښام سل ځله «سُبْحَانَ اللّٰهِ وَ بِحَمْدِهِ » ويل :

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «من قال إذا أصبح و إذا أمسى مئة مرة : ( سبحان الله و بحمده ) ؛ غفرت ذنوبه وإن كانت أكثر من زبد البحر» (صحيح الترغيب ٦٥٣ ).

ژباړه: څوک چې سل ځله سبا او بيګا «سبحان الله و بحمده » ووايي ، ده ته به د ګناهونو مغفرت وشي که څه هم د بحر د جګ يا کف په څير وي .

**دوهم**- سبا درى ځله او ماښام درى ځله ويل :«رَضِيتُ بِاللّٰهِ ربًّا وبالإسلامِ دينًا وبمحمدٍ نبيّا» .

ژباړه : زه په دې باندې راضي يم چې الله (جل جلاله) مې رب دى ، اسلام مې دين دى او محمد (صلى الله عليه وسلم ) مې نبي دى.

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «مَنْ قَالَ حِينَ يُصْبِحُ وَحِينَ يُمْسِي ثَلاَثَ مَرَّاتٍ: رَضِيتُ بِاللّٰهِ رَبًّا، وَبِالإِسْلاَمِ دِينًا، وَبِمُحَمَّدٍ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَبِيًّا، كَانَ حَقًّا عَلَى اللّٰهِ تَعَالَى أَنْ يُرْضِيَهُ» (رواه الترمذي،احمد و ابؤداود ).

يعني: څوک چې د سهار او ماښام په وخت درى ځله ووايي « رَضِيتُ بِاللّٰهِ رَبًّا ......» نو په الله تعالى حق دى چې هغه به د قيامت په ورځ خوشالوي .

**دريم**- سهار او ماښام اووه ځله ويل « حَسْبِيَ اللَّهُ لا إِلهَ إِلاَّ هُوَ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَهُوَ رَبُّ العَرْشِ العَظِيمِ » .

ژباړه : بس دی ماته هغه الله پاک چې پرته له هغه بل د عبادت لايق نشته ، پر هغه مې توکل کړی ، او هم دی د لوی عرش څښتن دی .

په فضيلت د دغه دعا کې له ابی الدرداء څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي:

«مَنْ قالَ فِي كُلّ يَوْمٍ حِينَ يُصْبحُ، وَحِينَ يُمْسِي :[حَسْبِيَ اللّهُ لا إِلـهَ إِلاَّ هُوَ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَهُوَ رَبُّ العَرْشِ العَظِيمِ ]سَبْعَ مَرَّاتٍ كَفَاهُ اللَّهُ تَعالى ما أهمَّهُ مِنْ أمْرِ الدُّنْيا والآخِرَةِ» (رواه ابو داؤد ۳۲۱/۴) .

يعنې : څوک چې دا ذکر (حَسْبِيَ اللَّهُ لا إِلـهَ إِلاَّ...) په هره ورځ کې سهار او ماښام اووه ځلې ووايي ، الله پاک به يې د دنيا او آخرت د کارونو او انديښتنو لپاره ورته کافي وګرځوي .

**څلورم**- سهار او ماښام درى ځله ويل « بِسْمِ اللَّهِ الَّذِي لاَ يَضُرُّ مَع اسْمِهِ شيء في الأرضِ ولا في السماءِ وَهُوَ السَّمِيعُ الْعلِيم »

ژباړه : د هغه الله په نوم چې له نامه سره يې هيڅ شی په ځمکه او آسمان کې ضرر نه رسوي ، او هغه ښه اوريدونکی ، ښه پوه دی .

عثمان بن عفان رضی الله عنه روايت نقل کړی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي

« مَا مِنْ عَبْدٍ يَقُولُ فِي صَبَاحِ كلِّ يَوْمٍ ومَسَاءِ كلِّ لَيْلَة: بِسْمِ اللَّهِ الَّذِي لاَ يَضُرُّ مَع اسْمِهِ شيء في الأرضِ ولا في السماءِ وَهُوَ السَّمِيعُ الْعلِيم، ثلاثَ مَرَّات، إلاَّ لَمْ يَضُرَّهُ شَيءٌ » (رواه أبو داود، والتِّرمذي وقال: حديث حسن صحيح).

ژباړه : کوم بنده چې په هره ورځ کې سهار او ماښام « بِسْمِ اللَّهِ الَّذِي.... » درې ځله ووايي نو هغه ته به هيڅ شی ضرر ونه رسوي .

او د ماښام پر مهال دا ذکر ويل کيږي «أَعُوذُ بِكَلماتِ اللَّهِ التَّامَّاتِ مِنْ شَرِّ ما خَلَقَ لم تَضُرَّك» (رواه مسلم).

ژباړه : د الله پاک په بشپړ کلام سره د هغه د مخلوقاتو له شر نه پناه غواړم .

رسول الله صلى الله عليه وسلم ته يو کس راغی چې لړم چيچلی وو نو هغه (صلى الله عليه وسلم) د دغو کلماتو ويلو ارشاد ورکړ .

**پنځم**- سهار او ماښام درې ځله (قل الله أحد ) او معوذين (قل اعوذ برب الفلق ، قل اعوذ برب الناس) ويل.

د عبدالله بن خُبيب رضی الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم ماته وفرمايل :

« اقْرا: قُلْ هوَ اللَّه أَحَد، والمعوِّذَتَيْن حِينَ تُمْسِي وَحِينَ تُصبِح، ثَلاثَ مَرَّاتٍ تَكْفِيكَ مِنْ كلِّ شَيْءٍ » (رواهُ أَبو داود والترمذي وقال: حديثٌ حسن صحيح).

ژباړه : د سهار او ماښام په وخت درې ځله قل الله احد ، معوذتين ووايه ستا لپاره د هر شي کفايت کوي .

**شپږم**- سهار او ماښام درې ځله ويل « يَا حَيُّ يَا قَيُّومُ بِرَحْمَتِكَ أَسْتَغِيثُ أَصْلِحْ لِي شَأْنِي كُلَّهُ، وَلَا تَكِلْنِي إِلَى نَفْسِي طَرْفَةَ عَيْنٍ »(رواه النسائي فى الكبرى ).

ژباړه : ای د کامل ژوند ښتنه ! ای د کائناتو تدبیرونکیه ! ، ستا په رحمت سره فریاد کوم او مدد غواړم ، زما ټول کارونه برابر کړي او زما نفس ( او خواهشاد ) ته مې د سترګي د رپ په اندازه هم مه سپارې

پورته دعا رسول الله صلی الله علیه وسلم خپلې لور فاطمې رضی الله عنه ته ښودلی ده .

**اووم**- سهار او د ماښام لمانځه نه وروسته لس ځله ویل « لا إلهَ إلَّا اللّهُ وحدَه لا شريكَ له له الملكُ وله الحمدُ وهو على كلِّ شيءٍ قديرٌ »

ژباړه: نشته لائق د عبادت مګر الله دی ، هغه یو دی ، شریک نلري ، ده لره تولواکي ده ، او هغه لره پوره ستاینه ده ، او هغه پر هر څه قادر دی .

له ابی ایوب رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:

مَن قال إذا أصبَح :«لا إلهَ إلَّا اللّهُ وحدَه لا شريكَ له له الملكُ وله الحمدُ وهو على كلِّ شيءٍ قديرٌ» عشْرَ مرَّاتٍ كُتِب له بهنَّ عشْرُ حسناتٍ ومُحي بهنَّ عنه عشْرُ سيِّئاتٍ ورُفِع له بهن عشْرُ درجاتٍ وكُنَّ له عَدْلَ عِتاقةِ أربعِ رقابٍ وكُنَّ له حرَسًا مِن الشَّيطانِ حتَّى يُمسيَ ومَن قالهنَّ إذا صلَّى المغربَ ) مَن قال دبُرَ صلاتِه إذا صلَّى :لا إلهَ إلَّا اللّهُ وحدَه دبُرَ صلاتِه فمِثلُ ذلك حتَّى يُصبِحَ (صحيح ابن حبان ۲۰۲۳، صحيح الترغيب ۴۷۴ ).

ژباړه : څوک چې سهار لس ځله ووایي : «لا إلهَ إلَّا اللّهُ وحدَه لا شريكَ له له الملكُ وله الحمدُ وهو على كلِّ شيءٍ قديرٌ » نو هغه ته به لس نیکی ولیکل شي ، او لس

ګناهونه به يې وبخښل شي ، او لس درجې به يې لوړې شي ، د څلورو مريانو د آزادولو په اندازه (اجر) به ورکړل شي ، او تر ماښام پورې به له شطان څخه په امان وي او همدارنګه که د ماښام د لمانځه وروسته يې ولولي هم دومره ثواب لري او يا يې که څوک د لمانځه وروسته ووايي په همدې شان ثواب لري .

**آتم**- يو ځل د سهار او ماښام دعا ويل :

ابی هريره رضی الله عنه وايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم به سهار داسې ويل « اللَّهُمَّ بِكَ أَصْبحْنَا وبِكَ أَمسَيْنَا وبِكَ نَحْيا، وبِكَ نَمُوت، وَإِلَيْكَ النُّشُورُ » .

ژباړه : ای الله (ستا په حکم ) مونږ سهار کړو ، او (ستا په حکم سره ) مونږ ماښام کړو ، او ستا (په حکم سره ) ژوند کوو ، او ستا (په حکم سره) مرو ، او تالره بيا درتګ دی .

او کله به چې ماښام شو داسې به يې ويل : « اللَّهُمَّ بِكَ أَمْسَيْنَا، وبِكَ نَحْيا، وبِكَ نمُوتُ وإِلَيْكَ المَصِير » (رواه أبو داود والترمذي وقال: حديث حسن).

ژباړه: ای الله (ستا په حکم ) مونږ ماښام کړو ، او ستا (په حکم ) ژوند کوو ، او ستا (په حکم ) مرو ، او تا لره مو بيرته درتګ دی.

د « اللَّهُمَّ بِكَ أَصْبحْنَا» په باره په احاديث کې مختلف الفاظ نقل شوي دي مسلم شريف داسې دعا نقل کړې ده « أَصْبَحْنَا وَأَصْبَحَ الْمُلْكُ لِلَّهِ وَالْحَمْدُ لِلَّهِ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ . لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ . رَبِّ إِنِّي أَسْأَلُكَ خَيْرَ مَا فِي هَذِا اليَوم وَخَيْرَ مَا بَعْدَهُ وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ هَذِا اليَوم وَشَرِّ مَا بَعْدَهُ . رَبِّ أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْكَسَلِ وَسُوءِ الْكِبَرِ . رَبِّ أَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابٍ فِي النَّارِ وَعَذَابٍ فِي الْقَبْرِ» (رواه مسلم).

ژباړه :سهار شو پر مونږ او ټولواكي ټوله خاص الله لره ده ، او ټوله غوره ستاينه الله لره ده ، د الله پرته بل معبود برحق نشته ، هغه يو دى ، شريک نلري ، او هغه پر هر څه قادر دى ، اى ربه! پدې ورځ كې چې څه خير دى ، او ددې وروسته چې څه خير دى زه له تانه د هغه سوال كوم، او پدې ورځ كې چې څه شر دى او له هغه نه وروسته چې څه شر دى له هغه څخه پر تا پناه غواړم ، اى ربه ! په تا سره له تنبلى ، او د لوى عمر بدوالي او ذلت څخه پنا غواړم ، اى ربه ! د دوزخ او قبر له عذاب څخه پر تا پناه غواړم .

د ماښام پر مهال به د « أَصْبَحْنَا وَأَصْبَحَ» پر ځاى «أمسَيْنَا وَ أمسى» وايي .

**نهم**- د سهار د لمانځه وروسته دا دعا ويل « اللّٰهم إنّي أسْألُك علمًا نافعًا، ورزقاً طيِّبًا، وعملًا متقبَّلًا»

ژباړه : اى الله ! زه له تانه د ګټور علم ، پاكې روزى ، او قبول شوي عمل سوال كوم .

ام المؤمنين أم سلمة رضى الله عنها روايت كوي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم به چې كله د سهار لمونځ ادا كړ دا دعا « اللّٰهم إنّي أسْألُك علمًا نافعًا....» به يې لوستله (رواه احمد و صحيح ابن ماجه ٧٦٢).

**لسم**- سهار او ماښام دا دعا ويل :« اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الْعَافِيَةَ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ، اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الْعَفْوَ وَالْعَافِيَةَ فِي دِينِي وَدُنْيَايَ وَأَهْلِي وَمَالِي، اللَّهُمَّ اسْتُرْ عَوْرَاتِي وَآمِنْ رَوْعَاتِي، اللَّهُمَّ احْفَظْنِي مِنْ بَيْنِ يَدَيَّ وَمِنْ خَلْفِي وَعَنْ يَمِينِي وَعَنْ شِمَالِي وَمِنْ فَوْقِي وَأَعُوذُ بِعَظَمَتِكَ مِنْ أَنْ أُغْتَالَ مِنْ تحتي» .

ژباړه : اى الله ! زه له تانه په دنيا او آخرت كې د معافى او سلامتى سوال كوم ، اى الله ! زه له تانه په خپل دين او دنيا كې او پخپل اهل او مال كې د معافى او

سلامتۍ سوال کوم ، ای الله ! زما غیبونه پټ کړې ، او ویره را څخه لرې کړې ، ای الله ! ما د مخې نه ، او د شا نه ، او ښي خوا نه ، او د چپې خوا نه ، او د پورته خوا محفوظ کړې ، او زه ستا په لويی سره له دې نه پناه غواړم چې د لاندې خوا نه ناڅاپه هلاک شم .

ابن عمر رضی الله عنهما روايت کوي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم هيڅکله هم په سهار او ماښام کې دغه کلمات نه دي ترک کړي « اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الْعَافِيَةَ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ..... » (صحيح ، البخاري في الأدب المفرد- ۱۲۰۰، ابوداود ، النسائي- ۵۰۷۴، وابن حبان -۹۶۱)

او يا دا دعا ويل :

«اللَّهُمَّ عَالِمَ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ فَاطِرَ السَّمَوَاتِ وَالأَرْضِ ، رَبَّ كُلِّ شَيْءٍ وَمَلِيكَهُ أَشْهَدُ أَنَّ لا إِلَهَ إلا أَنْتَ ، أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ نَفْسِي وَمَنْ شَرِّ الشَّيْطَانِ وَشِرْكِهِ» ( مسند أحمد باسناد صحيح ۴۳/۱،الترمذي صحيح حسن ۳۳۹۲ ، صحيح ابن حبان ۹۶۲).

ژباړه : ای الله ! په پټو او ښکاره عالمه ! ای د آسمانونو او ځمکې پيدا کونکيه ! ای د هر شي پالونکيه او واکمنه ! زه شاهدي ورکوم چې پرته ستا بل د عبادت وړ معبود نشته ، زه پر تا باندې د خپل نفس د شر نه ، او د شيطان د شر او شرک نه پناه غواړم .

د اسلام لومړي خليفه حضرت ابوبکر صديق رضی الله عنه عرض وکړ چې يا رسول الله ! ما ته داسې کلمات را وښيه چې سهار او ماښام يې وايم ، جناب رسول الله صلی الله عليه وسلم هغه ته وفرمايل چې دا اذکار وايه :« اللَّهُمَّ عَالِمَ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ فَاطِرَ السَّمَوَاتِ وَالأَرْضِ ، رَبَّ كُلِّ شَيْءٍ وَمَلِيكَهُ............. » .

یوولسم – سهار یا ماښام او یا د ورځې او شپې په کوم حصه کې «سید الاستغفار» ویل :

«اللَّهُمَّ أَنْتَ رَبِّي لا إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ، خَلَقْتَنِي وَأَنَا عَبْدُكَ، وَأَنَا عَلَى عَهْدِكَ وَوَعْدِكَ مَا اسْتَطَعْتُ، أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا صَنَعْتُ، أَبُوءُ لَكَ بِنِعْمَتِكَ عَلَيَّ وَأَبُوءُ لَكَ بِذَنْبِي، فَاغْفِرْ لِي، فَإِنَّهُ لا يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلاَّ أَنْتَ».

ژباړه : ای الله ! ته زما پروردګار یې ، بیله تا نه بل د عبادت وړ او لائق نشته ، تا زه پیدا کړی یم ، او زه دې بنده یم ، او زه د خپل توان سره ستا پر عهد او وعده ولاړ یم ، زه په تا سره د خپلو کړو له شر نه پناه غواړم ، زه ستا په هغه نعمت اقرار کوم چې ما ته دې راکړی ، او په خپله ګناه اقرار کوم ، نو ما ته بخښنه وکړې ، چې ستا څخه پرته بل څوک ګناه نشي بخښلای .

رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایلي : کوم بنده چه په اخلاص او د زړه په یقین سره د ورځې په څه حصه کې د الله په حضور کې دا عرض وکړي (اللَّهُمَّ أَنْتَ رَبِّي لا إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ، خَلَقْتَنِي وَأَنَا....) او په دغه ورځ د شپې شروع کیدو نه مخکې مړ شي نو بې شکه دی به جنت ته ځي او همدارنګه که د شپې په څه حصه کې د الله تعالی په حضور کې دا عرض وکړي او د سبا کیدو نه مخکې دی مړ شي بې شکه دی به جنت ته ځي ) (صحیح البخاري ).

دولسم – پر رسول الله صلی الله علیه وسلم باندې ډیر ډیر دود ویل .

**د سهار او ماښام مختصر اذکار**

١ - «سُبْحَانَ اللهِ وَ بِحَمْدِهِ » (١٠٠ ځله سهار او ماښام )

٢ - رَضِيتُ باللّهِ ربًّا وبالإسلامِ دينًا وبمحمدٍ نبيّا» (٣ ځله سهار او ماښام)

٣ - « حَسْبِيَ اللَّهُ لا إِلـهَ إِلاَّ هُـوَ عَلَيْهِ تَوَكَّلْـتُ وَهُـوَ رَبُّ الـعَـرْشِ العَظِيمِ » (٧ ځلـه سهار او ماښام)

٤ - سُبْحَانَ اللَّهِ وَبِحَمْدِهِ ، عَدَدَ خَلْقِهِ ، وَرِضَا نَفْسِهِ ، وَزِنَةَ عَرْشِهِ ، وَمِدَادَ كَلِمَاتِهِ (٣ ځله يوازې سهار)

٥ - « بِسْمِ اللَّهِ الَّذِي لاَ يَضُرُّ مَعَ اسْمِهِ شيء في الأرضِ ولا في السماءِ وَهُوَ السَّمِيعُ الْعلِيم » (٣ ځله سهار او ماښام )

٦ - «قل هو الله أحد » ، « قل اعوذ برب الفلق » ، «قل اعوذ برب الناس» (٣ ځله سهار او ماښام)

٧ - « يَا حَيُّ يَا قَيُّومُ بِرَحْمَتِكَ أَسْتَغِيثُ أَصْلِحْ لِي شَأْنِي كُلَّهُ، وَلَا تَكِلْنِي إِلَى نَفْسِي طَرْفَةَ عَيْنٍ » (٣ ځله سهار او ماښام )

٨ - « لا إلهَ إلَّا اللّهُ وحدَه لا شريكَ له له الملكُ وله الحمدُ وهو على كلِّ شيءٍ قديرٌ » (١٠ ځله سهار او ماښام لمانځه وروسته)

٩ - « اللَّهُمَّ بِكَ أَصْبحْنَا وبِكَ أَمسَيْنَا وبِكَ نَحيا، وبِكَ نَمُوت، وَإِلَيْكَ النُّشُورُ » (١ ځل سهار )

« اللَّهُمَّ بِكَ أَمْسَيْنَا، وبِكَ نَحيا، وبِك نمُوتُ وإِلَيْكَ المَصِير » (١ ځل ماښام)

١٠ - « اللّٰهم إنّي أسْألُك علمًا نافعًا، ورزقاً طيّبًا، وعمَلًا متقبَّلًا» (١ ځل سهار )

١١- :« اللَّهُـمَّ إِنِّي أَسْـأَلُكَ الْعَافِيَـةَ فِي الـدُّنْيَا وَالْآخِـرَةِ، اللَّهُـمَّ إِنِّي أَسْـأَلُكَ الْعَفْـوَ وَالْعَافِيَـةَ فِي دِينِي وَدُنْيَايَ وَأَهْلِي وَمَالِي، اللَّهُـمَّ اسْتُرْ عَـوْرَاتِي وَآمِنْ رَوْعَـاتِي، اللَّهُـمَّ احْفَظْنِي مِـنْ بَيْنِ يَـدَيَّ وَمِـنْ خَلْفِي وَعَـنْ يَمِينِي وَعَـنْ شِـمَالِي وَمِـنْ فَـوْقِي وَأَعُـوذُ بِعَظَمَتِكَ مِنْ أَنْ أُغْتَالَ مِنْ تحتي» (١ ځل سهار او ماښام )

١٢- «اللَّهُمَّ أَنْتَ رَبِّي لا إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ، خَلَقْتَنِي وَأَنَا عَبْدُكَ، وَأَنَا عَلَى عَهْدِكَ وَوَعْدِكَ مَا اسْتَطَعْتُ، أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا صَنَعْتُ، أَبُوءُ لَكَ بِنِعْمَتِكَ عَلَيَّ وَأَبُوءُ لَكَ بِذَنْبِي، فَاغْفِرْ لِي، فَإِنَّهُ لا يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلاَّ أَنْتَ».

(يو ځل سهار او ماښام يا د ورځې او شپې په څه حصه کې )

١٣- ډير ډير درود شريف ويل

## د ماښام يا بيګا اذكار

١- هر بيګا د «تبرک الذي» د سورت تلاوت :

د ابی هريره رضی الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي : إن سورة في القرآن ثلاثون آية شفعت لصاحبها حتى غفر له هى : تبارك الذي بيده الملك (صحيح الماجه – ٣٠٦٨ ) .

ژباړه: په قرآن کې درش ايته دي چې د تلاوت کوونکي د پاره تر هغه پورې شفاعت کوي تر څو هغه وبخښل شي دا تبارک الذي (سورة الملک ) دی .

ابن مسعود رضی الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي:

«سورة تبارك هي المانعه من عذاب القبر» ( السيوطي صحيح الجامع ۴۷۲۷ – سلسلة صحيحية ۱۱۴۰ ) .

ژباړه: سورت تبارک الذی د قبر د عذاب مانع ګرځي .

عبدالله ابن مسعود رضی الله عنه وايي : «من قرأ تبارك الذي بيده الملك كل ليلة منعه الله بها من عذاب القبر ، وكنا في عهد رسول الله صلى الله عليه وسلم نسميها المانعة» (رواه النسائي ( ۶ / ۱۷۹ ) وحسنه الألباني في صحيح الترغيب والترهيب ۱۴۷۵ ).

ژباړه: چا چې هره شپه تبارک الذی تلاوت کړ الله تعالی به هغه د قبر له عذاب څخه وساتي ، او مونږ به د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کې تبارک الذي سورت ته المانعه ویلو ( د قبر د عذاب مانع ) .

۲- ماښام يا بيګا د البقرې ورستي آيتونه تلاوت کول :

د البقره سورت ورستني دوه آيتونو ( آمن الرسول ... تر آخر د سورت پوري ) تلاوت کول د انسان د حفاظت سبب ګرځي ،رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي : من قرأ بالآيتين من آخر سورة البقرة في ليلة كفتاه (البخاري – ۵۰۰۸ ).

ژباړه:څوک چې د سورت بقرې ورستي دوه آيته د شپې تلاوت کړي ده لره کافي دي (د هر شر او بلا دافع ګرځي )

۳- د بيده کېدو پر مهال د آيت الکرسي تلاوت کول :

ابی هریره رضی الله عنه وايي : چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ماته د زکات د مال د ساتنې دنده سپارلې وه ، يو کس راغی او په غلا يې پيل وکړ ، هغه مې ونيو چې زه دې رسول الله ته وړولم ، هغه زاری وکړې بيا مې خوشی کړ، بله ورځ بيا راغلی بيا مې ونيو او زاری يې وکړې خوشی مې کړ، او دريمه ورځ بيا راغی بيا مې کلک ونيو چې دا ځل دې رسول الله ته وړولم ، هغه را ته وويل ما خوشی کړه زه به تاته څو ګټور کلمات در وښيم ، ويې ويل : هغه کوم کلمات دي ؟ ويې ويل : «إِذَا أَوَيْتَ إِلَى فِرَاشِكَ فَاقْرَأْ آيَةَ الْكُرْسِيِّ مِنْ أَوَّلِهَا حَتَّى تَخْتِمَ الآيَةَ (اللَّهُ لا إِلَهَ إِلاَّ هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ) وَقَالَ لِي: لَنْ يَزَالَ عَلَيْكَ مِنَ اللَّهِ حَافِظٌ، وَلا يَقْرَبَكَ شَيْطَانٌ حَتَّى تُصْبِحَ، .... »

ژباړه: کله چې د خوب بسترې ته ځې آيت کرسي (اللَّهُ لا إِلَهَ إِلاَّ هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ ... تر آخر د آيت پورې ) وايه، ټوله شپه به پرښتې ستا حفاظت کوي او تر سبا پورې به تا ته شيطان نه راځي .

دا قيصه مې رسول الله صلی الله عليه وسلم ته بيان کړه هغه وفرمايل : حال دا چې هغه يو ډير دروغجن کس دی مګر تا ته يې رښتيا ويلي .

يعني شيطان خپل زار پاش کړی چې څوک «اية الکرسي » ووايي د هغه به پرښتې حفاظت کوي شيطان به هغه ته نشي نږدې کيدلی .

۴- د بيده کيدو پر مهال د قل الله ، معذتين تلاوت :

د قل الله أحد او معوذتينو (قل اعوذ برب الفلق او قل اعوذ برب الناس ) تلاوت د انس او جن د شر او وسواسو سحر او جادو نه نجات دی .

عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّه عَنْهَا: أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم إِلَى فِرَاشِهِ كُلَّ لَيْلَةٍ، جَمَعَ كَفَّيْهِ ثُمَّ نَفَثَ فِيهِمَا، فَقَرَأَ فِيهِمَا: )قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ( وَ )قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ( وَ )قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ( ثُمَّ يَمْسَحُ بِهِمَا مَا اسْتَطَاعَ مِنْ جَسَدِهِ، يَبْدَأُ بِهِمَا عَلَى رَأْسِهِ وَوَجْهِهِ، وَمَا أَقْبَلَ مِنْ جَسَدِهِ، يَفْعَلُ ذَلِكَ ثَلاثَ مَرَّاتٍ. (البخارى:۵۰۱۷)

ژباړه: د بي بي عايشې رضی الله عنه نه روايت دی چه رسول الله صلى الله عليه وسلم دا عادت ؤ چه هر شپه به چه کله د آرام د پاره خپلې بسترې ته تللو نو خپل دواړه لاسونه به يې يو ځای کړل او قل هو الله ، قل اعوذ برب الفلق او قل اعوذ برب الناس ولوستل بيا به يې په لاسونو باندې وپوکل بيا د کوم ځای پورې چه کيده په خپل مبارک بدن به يې راکشول دا عمل به يې درې ځله تکرارولو .

سوره اخلاص د قرآن دريمې حصې د تلاوت ثواب لري .

وعن ابن عباس رضي الله عنهما قال : قال رسول صلى الله عليه وسلم :« أيعجز أحدكم أن يقرأ في ليلة ثلث القرآن ؟ ، قالوا وكيف يقرأ ثلث القرآن ؟ قال صلى الله عليه وسلم :«قل هو الله أحد " تعدل ثلث القرآن » (رواه مسلم ).

ژباړه: ابن عباس رضی الله عنه وايي : رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل : آيا د تاسې څخه څوک په دې عاجز دي چې په يوه شپه کې درې ځل قرآن تلاوت کړي ؟ مونږ وويل څنګه به څوک درې ځله تلاوت وکړای شي ؟ رسول الله صلى

الله عليه وسلم وفرمايل : د قل الله أحد تلاوت د قرآنكريم د تلاوت له دريمې حصې سره برابر دی .

٥- د جُمعې په شپه د سوره الكهف تلاوت :

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي : «من قرأ سورة ( الكهف ) ليلة الجمعة، أضاء له من النور ما بينه وبين البيت العتيق » ( صحيح الترغيب والترهيب / ٧٣٦ ).

ژباړه: چا چې د جمعې په شپه سورت الكهف تلاوت كړ د هغه لپاره به د ده او بيت العتيق تر منځ نور وي.

أبي الدرداء رضى الله عنه روايت كړی دی چې نبی صلى الله عليه وسلم فرمايلي : «من حفظ عشر آيات من أول سورة الكهف عُصم من الدجال وفي رواية .من آخر سورة الكهف » ( رواه مسلم).

ژباړه: چا چې د سورت الكهف لس اولينې آيتونه ياد كړل د دجال د فتنې نه په امن شي او په بل روايت كې دي آخر د سورت الكهف .

## د اوداسه اذكار

د اوداسه مخكې «بسم الله » ويل او د اوداسه وروسته ويل «أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَـهَ إِلَّا اللَّهُ، وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُ الله وَرَسُولُهُ»

عمر بن الخطاب رضى الله عنه روايت كوي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي : د تاسې څخه چې څوک اودس وكړي او د پوره آدابو سره په ښه شان اودس وكړي بيا د اوس كولو وروسته ووايي :

[أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُ اللهِ وَرَسُولُهُ]
نو د ده د پاره به د جنت تولې دروازې خلاصې شي هغه چې په كومه دروازه جنت ته تلل غواړي جنت تلای شي (روا مسلم ) .
او وروسته دا دعا ويل :« اللَّهُمَّ اجْعَلْنِي مِنَ التَّوَّابِينَ وَاجْعَلْنِي مِنَ الْمُتَطَهِّرِينَ » .

## د آذان اذكار

جناب رسول الله صلى الله عليه وسلم د آذان په ځواب وركولو چې يو د آذان ظاهري ځواب او بل د هغه حقيقي ځواب وركول يعنې جومات ته تلل دي د جنت زيرى وركړى دى خو افسوس چې زمونږ خبرې او مجلس د آذان په وخت كې هم جاري وي او جومات ته د جماعت ادا كولو لپاره ډير كم خلك ځي .
د آذان په ځواب كې به هماغه د مؤذن الفاظ تكراروي يعنې كله چې مؤذن ووايي «الله أكبر الله أكبر» اوريدونكى به هم وايي «الله أكبر الله أكبر» همداسې تر آخره ، خو د «حيَّ على الصلاة » او «حيَّ على الفلاح» په ځواب كې به « لا حول ولا قوة إلا بالله » وايي .
ځوك چې آذان ته د زړه څخه ځواب وركړي داخل به شي جنت ته (رواه مسلم :٣٨٥).
«إذا قال المؤذن الله أكبر الله أكبر فقال أحدكم الله أكبر الله أكبر ثم قال أشهد أن لا إله إلا الله قال أشهد أن لا إله إلا الله ثم قال أشهد أن محمدا رسول الله قال أشهد أن محمدا رسول الله ثم قال حي على الصلاة قال لا حول ولا قوة إلا بالله ثم قال حي على الفلاح قال لا حول ولا قوة إلا بالله ثم قال الله أكبر الله أكبر

قال الله أکبر الله أکبر ثم قال لا إلـه إلا الله قال لا إلـه إلا الله من قلبه دخل الجنة « (رواه مسلم : ۳۸۵ ) .

**د آذان دعا :**

«اللَّهُمَّ رَبَّ هَذِهِ الدَّعْوَةِ التَّامَّةِ، وَالصَّلاةِ الْقَائِمَةِ، آتِ مُحَمَّدًا الْوَسِيلَةَ وَالْفَضِيلَةَ، وَابْعَثهُ مَقَامًا مَحْمُودًا الَّذِي وَعَدْتَهُ» .

ژباړه : ای الله ! ددې مکملې بلنې او کيدونکې لمونځ پروردګاره ! محمد صلى الله عليه وسلم ته په جنت کې خاصه درجه ، او خاص فضيلت ورکړې ، او هغه ستايلى شوي مقام ته يې ورسوي کوم چې تا ورسره وعده کړې .

د جابر بن عبدالله رضى الله عنه روايت دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي : څوک چې آذان واروي او دا دعا (اللَّهُمَّ رَبَّ هَذِهِ الدَّعْوَةِ التَّامَّةِ، وَالصَّلاةِ الْقَائِمَةِ، ......) ووايي نو هغه کس به زما د شفاعت څخه برخمن شي.(البخارى:۶۱۴).

## د جومات اذکار

جومات ته د ننوتلو دعا :«اللَّهُمَّ! افْتَحْ لِي أبْوابَ رَحْمَتِكَ » (المسلم: ۷۱۳ ).

ژباړه: ای پروردګاره ! ما ته ستا د رحمت دروازې پرانيزه .

د جومات څخه د وتلو دعا : « اللَّهُمَّ! إنِّي أَسْأَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ » (رواه مسلم)

ژباړه: ای پروردګاره ! ما ته ستا د فضل دروازې پرانيزه .

## د لمانځه وروسته اذكار

١- د ثوبان رضى الله عنه نه روايت دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د سلام ګرځولو وروسته درى ځله استغفار :«أَسْتَغْفِرُ اللّٰه، أَسْتَغْفِرُ اللّٰه، أَسْتَغْفِرُ اللّٰه » ويل او ورسته يي دا دعا ويله : « اللَّهُمَّ أَنْتَ السَّلام، ومِنكَ السَّلام، تباركْتَ يَاذا الجلالِ والإكرام » (المسلم ٥٩١ ).

ژباړه : اى الله ! ته له ټولو عيبونو نه پاک يې ، او سلامتيا ستا له جانبه ده ، با بركته ذات يې ، اى د لويي او عزت وركولو څښتنه .

٢- له ابى امامة رضى الله عنه نه روايت دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي : «من قرأ آية الكرسي دبر كل صلاة مكتوبة ، لم يمنعه من دخول الجنة إلا أن يموت» (رواه النسائي وصححه ابن حبان او صحيح الجامع ) .

ژباړه : څوک چې د فرض لمانځه څخه وروسته ايت الكرسي ولولي ، كله چې وفات شي جنت ته به داخل شي .

٣- له ابو هريره نه روايت دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي : «من سبح الله دبر كل صلاة ثلاثا وثلاثين، وحمد الله ثلاثا وثلاثين وكبر الله ثلاثا وثلاثين تلك تسع وتسعون ثم قال تمام المائة لا إله إلا الله وحده لا شريك له، له الملك وله الحمد وهو على كل شئ قدير، غفرت له خطاياه و إن كانت مثل زيد البحر (المسلم ٥٩٧) .

ژباړه: څوک چې د هر لمانځه وروسته ٣٣ ځله «سبحان الله» ، ٣٣ ځله

«الحمدلله» ۳۳ ځله «الله اکبر» ووايي چې ټول ۹۹ ځله کيږي او د «لا إِلَهَ إِلا اللَّهُ وَحْدَهُ لا شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ» په ويلو ۱۰۰ ځله پوره کړي د هغه (کوچني ) ګناهونو به وبخښل شي که څه هم د بحر د کف په شان وي .

«لا إِلَهَ إِلا اللَّهُ وَحْدَهُ لا شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ»

ژباړه : د الله پرته بل هيڅ د عبادت وړ نشته ، هغه يو دی ، شريک نلري ، هغه لره (د ټولې هستۍ) تولواکي او پوره غوره ستاينه ده ، او هغه پر هر څه قادر دی.

د مُغيره بن شُعبَةَ رضی الله عنه روايت دی چې جناب رسول الله صلی الله عليه وسلم د هر فرض لمانځه وروسته داسې ويل : ««لا إِلَهَ إِلا اللَّهُ وَحْدَهُ لا شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ. اللَّهُمَّ لا مَانِعَ لِمَا أَعْطَيْتَ، وَلا مُعْطِيَ لِمَا مَنَعْتَ، وَلا يَنْفَعُ ذَا الْجَدِّ مِنْكَ الْجَدُّ»»(متفق عليه)

ژباړه : د الله تعالی پرته بل معبود برحق نشته ، هغه يو دی ، شريک نلري ، هغه لره ( د کائناتو) پاچاهي او پوره غوره ستاينه ده ، او هغه پر هر څه قادر دی ، ای الله ! ته چې (چا ته ) څه ورکوې ، د هغه څوک مانع بندونکی نشته ، او ته چې (له چا نه) څه بند کړې ، د هغه څوک ورکونکی نشته ، او فائده نه کوي مالدار لره د هغه مال ستا د عذاب ( په لرې کولو کې ).

۴- جناب رسول الله صلى الله عليه وسلم معاذ بن جبل رضى الله عنه ته په دغه دعا وصيت کړی دی چې د هر لمانځه وروسته به يې وايې :« اللَّهُمَّ أعِنَّا عَلَى ذِكْرِكَ، وَشُكْرِكَ، وَحُسْنِ عِبَادَتِكَ »

ژباړه: ای الله! زما سره کومک وکړه تر څو زه د تا په ذکر او ياد کې ووسم او ستا شکر ادا کړم او ستا سم عبادت وکړم (ابوداود: ۱۵۲۲ بإسناد صحيح) .

۵- سعد بن وقاص رضى الله عنه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د لمانځه وروسته داسې دعا ويله :

«اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْبُخْلِ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنَ الْجُبْنِ، وَأَعُوذُ بِكَ أَنْ أُرَدَّ إِلَى أَرْذَلِ الْعُمُرِ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ الدُّنْيَا وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ» (رواه البخاري) .

ژباړه : ای الله ! زه پر تا پناه غواړم له بخل ، او پر تا پناه غواړم له بزدلی او پر تا پناه غواړم له نا کاره عمره (چې د ذلت سبب شي) او پر تا پناه غواړم د دنيا له فتنې او پر تا پناه غواړم د قبر له عذاب څخه .

۶- عقبه بن عامر رضى الله عنه وايي چې ماته رسول الله صلى الله عليه وسلم حکم کړی چې « أَنْ أَقْرَأَ بِالْمُعَوِّذَاتِ ، فِي دُبُرَ كُلِّ صَلاَةٍ» (رواه احمد ، ابؤداود ، النسائي ،صحيح الحاکم ، و صحيح ابن حبان ).

ژباړه: د هر لمانځه وروسته به (قل هو الله أحد ) ، (قل اعوذ برب الفلق ) ، (قل اعوذ برب الناس) وايې .

حافظ ابن حجر رحمه الله وايي : د (بالمعوذات ) څخه مطلب درى سورتونه (قل الله أحد او معوذتين ) دي .

قل هوالله أحد او معوذتين به د سهار او ماښام درى ځله او پـه د نـورو لمونځونو وروسته يو ځل .

## د لمانځه نه وروسته اذكارو خلاصه

١ - «أسْتَغْفِرُ الله» (٣ ځله )

٢ - «اللَّهُمَّ أَنْتَ السَّلام، ومِنكَ السَّلام، تباركْتَ يَاذا الجلالِ والإكرام » (يو ځل )

٣- «اية الكرسي» (يو ځل )

٤- « سبحان الله» (٣٣ ځله ) ، « الحمدلله» (٣٣ ځله ) ، «الله أكبر» (٣٣ ځله ).

٥- «لا إلَـهَ إلا اللَّهُ وَحْدَهُ لا شَرِيكَ لَـهُ لَـهُ الْمُلْكُ وَلَـهُ الْحَمْدُ وَهُـوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ» (يو ځل )

٦- «لا إلَـهَ إلا اللَّهُ وَحْدَهُ لا شَرِيكَ لَـهُ لَـهُ الْمُلْكُ وَلَـهُ الْحَمْدُ وَهُـوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ. اللَّهُـمَّ لا مَانِعَ لِمَا أَعْطَيْتَ، وَلا مُعْطِيَ لِمَا مَنَعْتَ، وَلا يَنْفَعُ ذَا الْجَدِّ مِنْكَ الْجَدُّ»(يو ځل )

٧- :« اللَّهُمَّ أعِنَّا عَلَى ذِكْرِكَ، وَشُكْرِكَ، وَحُسْنِ عِبَادَتِكَ » (يو ځل )

٨- «قل هو الله أحد» ، «قل اعوذ برب الفلق » ، «قل اعوذ برب الناس» (سهار او ماښام درى ځله نورو لمونځونو کې يو ځل )

٩- اللَّهُمَّ إنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْبُخْلِ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنَ الْجُبْنِ، وَأَعُوذُ بِكَ أَنْ أُرَدَّ إِلَى أَرْذَلِ الْعُمُرِ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ الدُّنْيَا وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ (يو ځل )

## كور ته د ننوتلو او وتلو اذكار

د كور څخه د وتلو دعا : «بِسْمِ اللهِ تَوَكَّلْتُ عَلَى اللهِ وَلاَ حَوْلَ وَلاَ قُوَّةَ إِلاَّ بِاللهِ» (سنن ابوداود ۴ / ۳۲۵).

ژباړه: د الله په نوم په الله پاک توكل كوم او د الله تعالى پرته د رجوع ځاى او قوت نشته .

كور د ننوتلو پر مهال به «بسم الله» او نور اذكار وايي او سلام به اچوي كه په كور كې څوك وي يا نه .

جاء في موسوعة الفقهية : " يُستحبّ أن يقول إذا دخلَ بيتَه: باسم الله، وأن يكثرَ من ذكر الله تعالى، وأن يسلّمَ سواء كان في البيت آدميّ أم لا، لقول الله تعالى: (فإِذَا دَخَلْتُمْ بُيُوتاً فَسَلِّمُوا على أنْفُسِكُمْ تَحِيَّةً مِنْ عِنْدِ اللَّهِ مُبَارَكَةً طَيِّبَةً) النور ٦١" انتهى من "الأذكار"

الموسوعة الفقهية" (٨/ ٩٢):

جناب نبي كريم صلى الله عليه و سلم فرمايي :

«إذا دخل الرجل بيته فذكر الله عز و جل عند دخوله و عند طعامه قال الشيطان: لا مبيت لكم و لا عشاء. فإذا دخل ولم يذكر الله قال: أدركتم المبيت. و إن لم يذكر الله عند طعامه قال الشيطان: أدركتم المبيت و العشاء»

ژباړه: كله چې سړى كور ته د داخليدو په وخت كې او د خوراك په وخت كې الله ياد كړي نو شيطان وايي: تاسې لره نه تخت شته او نه شپه.او كله چې داخل شي

او الله تعالی یاد نه کړي نو وايي: تخت او استراحت ځای مې پیدا کړ، او که د خوراک په وخت کې الله یاد نه کړي شیطان وايي: تخت او شپه مې پیدا کړل (د شپې تیرولو ځای مې پیدا کړ).

## د خوراک اذکار

د خوراک په شروع کې «بِسم الله» ویل او که په شروع کې «بسم الله» ویل هیر شي نو بیا به داسې وايي: «بِسْمِ اللهِ فِيْ أَوَّلِهِ وَآخِرِهِ» (د الله پاک په نوم په اول او آخر کې شروع کوم) .

**د خوراک وروسته دعا :**«الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ أَطْعَمَنِيْ هَذَا وَرَزَقَنِيْهِ، مِنْ غَيْرِ حَوْلٍ مِنِّيْ وَلاَ قُوَّةٍ» [سنن ابوداود]

ژباړه: ټولې ستاینې هغه الله پاک لره دي چې ما ته يي دغه خوراک راکړ او ما ته يي بغیر د قوت او قدرت له صرف کولو روزي راکړه .

یا دا دعا ویل : «الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَطْعَمَنَا وَسَقَانَا وَجَعَلَنَا مُسْلِمِينَ» (رواه ابوداود :۳۸۵۰،الترمذي: ۳۴۵۷ ).

ژباړه: ټولې ستاینې هغه الله پاک لره دي چې مونږ ته يي خوراک راکړ او مونږ ته يې د څښاک شی راکړ او ګرځولي یو مونږ مسلمانان .

**د میلمه دعا د کور اهل ته :**«اللهُـمَّ أَطْعِمْ مَنْ أطْعَمَني وأَسْقِ مَنْ سقَاني» [صحيح مسلم ۳ / ۱۲۶]

ژباړه: ای الله! چا چې ما ته خوراک راکړ هغه ته خوراک ورکړې او چا چې ما ته د څښاک شی راکړ هغه ته د څښاک شی ورکړې .

## د قضای حاجت اذکار

بیت الخلاء ته د ننوتلو دعا :«بِسْمِ اللهِ، اللهُمَّ إِنّي أعُوذُ بِكَ مِنَ الخُبُثِ والخبائِثِ» (صحيح بخاري او صحيح مسلم).

ژباړه: د الله پاک په نوم ، ای پروردګاره ! زه پر تا پنا وړم له (شره ) د (شیطان ) نارینه او ښځینه .

**د بیت الخلاء نه د وتلو دعا :**[غُفْرانَكَ] «الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِى أَذْهَبَ عَنِّى الأَذَى وَعَافَانِى» (سنن ترمذي و ابؤداود).

ژباړه: ستا څخه بخښنه غواړم ، ټولې ستاینې هغه الله پاک لره دي چې زما څخه یې مضر شیان لرې کړل او ما ته یې روغتیا او نجات راکړ.

او یوازې [غُفْرانَكَ] ویل هم صحي دي .

## د خوب اذکار

**د خوب نه مخکې دعا :** «بِاسْمِكَ اللَّهُمَّ أَمُوتُ وَأَحْيَا»( البخاری: ۶۳۲۴ ).

ژباړه: ای الله! ستا په نوم زما ژوندي کیدل او مړه کیدل دي.

**د خوب نه د بیداریدو دعا :**

«الحَمْدُ للهِ الَّذِي أَحْيَانَا بَعْدَ مَا أمَاتَنَا وإلَيْهِ النُّشُورُ» (رواه مسلم ).

ژباړه: ثناء او ستاينه هغه الله پاک لره ده چې مونږ يې وروسته له مرګ څخه ژوندي کړو او د هغه طرف ته زمونږ رجوع کول دي .

### د عطسه (پرنجيدلو ) دعا

کله چې انسان ته پرنجی ورشي وايي به : «الحَمْدُ لِلّهِ» او څوک چې له ده سره موجود دي هغوی به وايي : «يَرْحَمُكَ اللّهُ» (الله پاک دې پر تا ورحميږي ). پرنجي کوونکی به د هغه په ځواب کې وايي: «يَهْدِيْكُمُ اللّهُ وَيُصْلِحُ بَالَكُمْ» (الله پاک د تا ته هدايت وکړي او الله پاک د ستاسې حال يا بال بڃ صالح وګرځوي) (صحيح بخاري ۷ / ۱۲۵، او مسند امام احمد )

### د بازار اذکار

بازار ته د داخليدو دعا :

«لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللّهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيْكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ، يُحْيِيْ وَيُمِيْتُ وَهُوَ حَيٌّ لاَ يَمُوْتُ، بِيَدِهِ الْخَيْرُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ» (سنن الترمذي و مسند امام احمد).

ژباړه: نشته لائق د عبادت مګر الله دی ،چې هغه يو دی ،شريک نه لري ، هغه لره پاچاهي او ټولې ستاينې دي ، ژوندي کول او مړه کول کوي ، او هغه ابدي ژوندی دی چې هيڅکله نه مري ، د ده په بلاکيف لاس کې خير او ښېګڼې دي او هغه په هر څه باندې قادر دی .

حضرت عمر رضی الله عنه روایت کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي :«من دخل السوق فقال لا إله إلا الله وحده لا شريك له، له الملك وله الحمد، يحيي ويميت، وهو حي لا يموت، بيده الخير، وهو على كل شيء قدير، كتب الله له ألف ألف حسنة، ومحا عنه ألف ألف سيئة، ورفع له ألف ألف درجة» (رواه الترمذي وابن ماجة و الترغيب والترهيب ۲/۵۱۷).

ژباړه : څوک چې بازار ته داخلیږي او ووایي :«لا إله إلا الله وحده لا شريك له، له الملك وله الحمد، يحيي ويميت، وهو حي لا يموت، بيده الخير، وهو على كل شيء قدير» ، الله تعالی به ده لره زر زر نیکی ولیکي ، او له ده څخه به زر زر بدی لري کړي او زر زر درجې به یې لوړې کړي.

## د سفر اذکار

کله چې سړی غواړي سفر وکړي له خپلې کورنی او خپلوانو نه به داسې خدای په آماني کوي :

«أَسْتَوْدِعُ اللهَ دِيْنَكَ، وَأَمَانَتَكَ، وَخَوَاتِيْمَ عَمَلِكَ»(سنن الترمذي و مسند امام احمد).

ژباړه: ستا دین ، ستا امانت او ستا د عمل خاتمه پر الله پاک سپارم.

مقیم به مسافر ته داسې دعا کوي :

«أَسْتَوْدِعُكُمُ اللهَ الَّذِيْ لاَ تَضِيْعُ وَدَائِعُهُ» (مسند احمد ، ابن ماجه).

ژباړه: تا پر الله پاک سپارم هغه الله تعالی چې هغه ته کله څه وسپارل شي نو هغه نه ضایع کوي.

**د سفر د روانيدو په وخت کې دعا :**

«اللَّهمَّ أَنْتَ الصَّاحِبُ فِي السَّفَرِ وَالْخَلِيفَةُ فِي الْأَهْلِ، اللَّهمَّ إِنّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ وَعْثَاءِ السَّفَرِ وَكَآبَةِ الْمَنْظَرِ وَسُوءِ الْمُنْقَلَبِ فِي الْمَالِ وَالْأَهْلِ وَالْوَلَدِ» ( صحيح مسلم ).

ژباړه: اى پروردګاره ! ته (زما ) د سفر صاحب يئ او (زما) د کورنی نائب يئ ، اى پروردګاره ! پر تا پنا غواړم له سختيو د سفر څخه او ديدنيو او بد حالى څخه په مال ، کورنى او اولاد (خپل ) .

**سورلې ته د پورته کيدو په وخت کې دعا :**

درى ځله به « **اللهُ أَكْبَرُ** » وايي او بيا به دا دعا ووايي :

﴿سُبْحانَ الَّذِي سَخَّرَ لَنَا هَذَا وَمَا كُنَّا لَهُ مُقْرِنِينَ * وَإِنَّا إِلَى رَبِّنَا لَمُنقَلِبُونَ﴾. اللَّهُمَّ إِنَّا نَسْأَلُكَ فِيْ سَفَرِنَا هَذَا الْبِرَّ وَالتَّقْوَى، وَمِنَ الْعَمَلِ مَا تَرْضَى، اللَّهُمَّ هَوِّنْ عَلَيْنَا سَفَرَنَا هَذَا وَاطْوِ عَنَّا بُعْدَهُ، اللَّهُمَّ أَنْتَ الصَّاحِبُ فِيْ السَّفَرِ، وَالْخَلِيْفَةُ فِيْ الْأَهْلِ، اللَّهُمَّ إِنِّيْ أَعُوْذُ بِكَ مِنْ وَعَثَاءِ السَّفَرِ، وَكَآبَةِ الْمَنْظَرِ، وَسُوْءِ الْمُنْقَلَبِ فِيْ الْمَالِ وَالْأَهْلِ» ( رواه مسلم ).

ژباړه : پاک دى هغه ذات چې مونږ ته يې دا (سورلى) تابع کړې ده ، او مونږ د هغه مهاروونکي نه يو ، او يقيناً چې مونږ خپل رب ته بيرته ورتلونکي يو .

اى الله ! مونږ په دې سفر کې له تانه د نيکى او پرهيزکارى او داسې عمل سوال کوو چې تا ته خوښ وي ، اى الله ! ته مونږ ته دا سفر آسانه کړې ، او اوږدوالى يې راته لنډ کړې، اى الله ! ته په سفر کې ملګرى ، او په کور کې سرپرست يې ، اى

الله ! زه پر تا پناه غواړم د سفر د سختۍ نه ، او له خوار حالت او مال او عيال ته له ناوړه بيرته ستنيدو نه .

او کله چې د سفر څخه را وګرځي د پورته دعا سره به لاندي اذکار وايي:

«آيِبُوْنَ، تَائِبُوْنَ، عَابِدُوْنَ، لِرَبِّنَا حَامِدُوْنَ» ( صحيح مسلم).

ژباړه : مونږ بيرته راتلونکي ،توبه ايستونکي، عبادت کونکي يوازې د خپل پروردګار ثنا ويونکي يو .

ښار او کلي ته د ننوتلو دعا :

«اللَّهُمَّ رَبَّ السَّمَوَاتِ السَّبْعِ وَمَا أَظْلَلْنَ ، وَرَبَّ الأَرَضِينِ السَّبْعِ وَمَا أَقْلَلْنَ ، وَرَبَّ الشَّيَاطِينِ وَمَا أَضْلَلْنَ ، وَرَبَّ الرِّيَاحِ وَمَا ذَرَيْنَ ، فَإِنَّا نَسْأَلُكَ خَيْرَ هَذِهِ الْقَرْيَةِ وَخَيْرَ أَهْلِهَا ، وَنَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّهَا وَشَرِّ أَهْلِهَا وَشَرِّ مَا فِيهَا »

[رواه النسائي في "السنن الكبرى" (٥/٢٥٦) والحاكم في "المستدرك" (١/٦١٤) وقال :هذا حديث صحيح الإسناد].

ژباړه : ای الله ! د اوو آسمانونو او د هغو تر سيوري لاندې (مخلوقاتو) پروردګاره ! او د اوو ځمکو او د هغو بر سيره (مخلوقاتو) پروردګاره ! او د شيطانانو او په هغه سره د ګمراه شويو (مخلوقاتو ) پروردګاره ! او د بادونو او په هغه سره د الوزول شويو (مخلوقاتو) پروردګاره! زه ددې کلي خير ، او د هغه د اوسيدونکو خير ، او د هغه څه خير درنه غواړم کوم چې په هغه کې دي ، او په تا سره پناه

غوارم د هغه له شر نه ، او د هغه د اوسیدونکو له شر نه او د هغه څه له شر نه کوم چې په هغه کې دي .

د ختلو او ښکته کېدو دعا :

جابر رضی الله عنه وايي: کله به چې په لوړه ختلو « الله أكبر» به مو ویل ، او کله چې به ښکته کیدو نو «سُبْحَانَ الله » به مو ویل ( فتح الباري شرح البخاري: ۱۶۳/۶ ).

## د باران غوښتلو دعا

«اللَّهُمَّ أَسْقِنَا غَيْثاً مُغِيثاً مَرِيئاً مَرِيعاً، نَافِعاً، غَيْرَ ضَارٍّ، عَاجِلاً غَيْرَ آجِلٍ»

(ابؤداود بإسناد صحيح ) .

ژباړه : ای الله ! پر مونږ باران ووروې ، نجات ورکونکی ، مزه دار ، واښه شنه کونکی ، فائده رسونکی ، بې ضرره ، ژر کیدونکی ، نه ځنډیرونکی .

## د قبر د زیارت دعا

«السَّلاَمُ عَلَيْكُمْ أَهْلَ الدِّيَارِ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُسْلِمِيْنَ، وَإِنَّا إِنْ شَاءَ اللهُ بِكُمْ لاَحِقُوْنَ وَيَرْحَمُ اللهُ الْمُسْتَقْدِمِيْنَ مِنَّا وَالْمُسْتَأْخِرِيْنَ أَسْأَلُ اللهَ لَنَا وَلَكُمُ الْعَافِيَةَ» [صحيح مسلم: ۲ / ۲۷۱].

ژباړه: السلام علیکم ای اهل د دغه قبرونو له مؤمنانو او مسلمانانو ، بې شکه که الله پاک و غواړي مونږ به هم حتمي ستاسو سره یو ځای شو ، الله پاک دي

زمونږ په پخوانيو او ورستنيو رحم وکړي ، له الله پاک څخه د ځان او تاسې د پاره عافيت (د دنيا او آخرت د عذاب څخه نجات ) غواړم .

## د مريض د عيادت (پوښتنې ) دعا

«لاَ بَأْسَ طَهُوْرٌ إِنْ شَاءَ اللّٰهُ» (رواه البخاري).

څه پروا نشته ، ان شاء الله ( دا مرض به ستا د ګناهونو ) د پاکوالي سبب وي .

«أَسأَلُ اللّٰهَ العَظِيمَ رَبَّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ، أَنْ يَشْفِيَک» (رواه الترمذي ، ابؤداود ، صحيح الجامع).

ژباړه : له هغه لوی او د عظمت څښتن الله نه سوال کوم چې د لوی عرش څښتن دی ، چې تا لره شفا درکړي ( اووه ځلې

## د واده کولو يا سپرلۍ اخيستلو دعا

«اللّٰهُمَّ إِنِّيْ أَسْأَلُكَ خَيْرَهَا وَخَيْرَ مَا جَبَلْتَهَا عَلَيْهِ وَأَعُوْذُ بِكَ مِنْ شَرِّهَا وَشَرِّ مَا جَبَلْتَهَا عَلَيْهِ» [سنن ابوداود: ۲ / ۲۴۸].

ژباړه: ای پروردګاره ! زه ستا څخه ددې د خير سوال کوم ، او د هغه څه د خير سوال درنه کوم چې تا هغه پيدا کړی ده ، او پناه غواړم په تا سره ددې له شر نه ، او له هغه شر نه په کوم چې تا هغه پيدا کړې ده .

## د جامې اغوستلو دعا

«الحَمْدُ لِلّٰهِ الذِي كَسَانِي هَذَا (الثَّوبَ ) وَ رَزَقَنِيهِ مِنْ غَيرِ حَوْلٍ مِنّي وَ لاقُوةٍ» ( اهل سنن ، ارواء الغليل: ۴۷/۷ )

ژباړه : ساينه هغه الله لره ده چې ما ته يې دا جامه را واغستـه، او د كوم طاقت او قوت پرته يې ماته راكړه .

**د نوي جامې اغوستلو دعا :**

«اللَّهُمَّ لَكَ الْحَمْدُ ، أَنْتَ كَسَوْتَنِيهِ ، أَسْأَلُكَ مِنْ خَيْرِهِ وَخَيْرِ مَا صُنِعَ لَهُ ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّهِ وَشَرِّ مَا صُنِعَ لَهُ»

(ابؤداود و الترمذي ).

ژباړه: اى الله! ساينه تا لره ده چې ما ته دې دا (جامه ) را واغستـه ، زه له تا څخه د هغې خير او د څه لپاره چې جوړه شويده د هغه د خير سوال درنه كوم، پر تا پنا غواړم له شره د هغه او له شر د هغه د كوم د پاره چې دا لباس جوړ شوى دى .

## د مياشتې د ليدلو دعا

«اللهُ أَكْبَرُ، اللَّهُمَّ أَهِلَّهُ عَلَيْنَا بِالْأَمْنِ وَالْإِيْمَانِ، وَالسَّلَامَةِ وَالْإِسْلَامِ، وَالتَّوْفِيْقِ لِمَا تُحِبُّ رَبَّنَا وَتَرْضَى، رَبُّنَا وَرَبُّكَ اللهُ» [صحيح ابن حبان: ٨٨٨ ،سنن الترمذي: ٥ / ٥٠٦].

ژباړه: الله لوى دى ، اى پروردګاره ! د دغه مياشتې را ختل پر مونږ باندې د امن ، ايمان ،جوړتيا او اسلام او پر هغو شيانو د توفيق سبب كړي كوم چې ستا خوښ دي ، زما او ستا پروردګار الله دى .

## د مجلس د ختم دعا

«سُبْحَانَكَ اللَّهُمَ وَبِحَمْدِكَ أَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ» [سنن الترمذي ،ابؤداود،و النسائي].

ژباړه: ای الله ته پاک يئ ، ثنا او ستاينه تا لره ده ، زه شاهدي ورکوم چې بغير له تا بل معبود بر حق نشته ، او له تا څخه بخښنه غواړم او تا ته توبه کوم.

## د خپلې بی بی سره د کورواله کولو په وخت کې دعا

«بِسْمِ اللهِ، اللَّهُمَّ جَنِّبْنَا الشَّيْطَانَ، وَجَنِّبِ الشَّيْطَانَ مَا رَزَقْتَنَا» (البخاري و مسلم).

ژباړه: د الله پاک په نوم ، ای الله ! ته مو له شيطان نه لرې کړې ، او هغه اولاد چې مونږ ته يې راکوي د شيطان څخه يې لرې کړې (د هغه له شر او ضرر يې وساتې) .

## د علم د طلب دعا

«اللَّهُمَّ إِنِّيْ أَسْأَلُكَ عِلْماً نَافِعاً و أَعُوْذُ بِكَ مِنْ عِلمٍ لا يَنفع» [صحيح ابن حبان: ٨٢،سنن ابن ماجه: ٢ / ٣٢٧ ]

ژباړه: ای الله! ستا څخه علم نافع غواړم او له داسې علم پر تا پنام وړم چې په هغه کې ګټه نه وي.

## د خطرناکو امراض د وقايې دعا

«اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْبَرَصِ، وَالْجُذَامِ، وَالْجُنُونِ، وَسيِّئِ الأَسْقَامِ» (صحيح ابن حبان: ١٠١٧).

اى الله! پر تا پنا غواړم له (مبتلا کيدو ) د پيس ، ليونتوب او نورو بدو مرضو څخه.

## د شرک نه د نجات دعا

«اللَّهُمَّ إِنِّيْ أَعُوْذُ بِكَ أَنْ أُشْرِكَ بِكَ وَأَنَا أَعْلَمُ، وَأَسْتَغْفِرُكَ لِمَا لاَ أَعْلَمُ» [مسند احمد: ۴ / ۴۰۳].

اى الله ! زه پر تا پنا غواړم له دي چې ستا سره څوک شريک ونيسم حال دا چې زه ور باندې پوه وم او له تا څخه بخښنه غواړم له هغه (شرک ) نه چې زه پرې نه پوهيږم .

## د دوښمن سره د مخامخ کيدو دعا

«اللَّهُمَّ اسْتُرْ عَوْرَاتِنَا وَآمِنْ رَوْعَاتِنَا» [مسند احمد، مشكاة المصابيح].

الهي ! زمونږ عيبونه پټ کړې او زمونږ ويره په امن او ډاډ بدله کړې

## د چرگ ،خره او سپي د آواز په وخت کې دعا

ابى هريره رضى الله عنه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي : «إِذَا سَمِعْتُمْ صِيَاحَ الدِّيَكَةِ فَاسْأَلُوا اللَّهَ مِنْ فَضْلِهِ فَإِنَّهَا رَأَتْ مَلَكًا، وَإِذَا سَمِعْتُمْ نَهِيقَ الْحِمَارِ فَتَعَوَّذُوا بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ، فَإِنَّهُ رَأَى شَيْطَانًا». (رواه البخاري).

ژباړه : کله مو د چرګ آواز واورېد د الله تعالی فضل او کرم وغواړئ ،ځکه هغه دغه مهال پرېښته ویني ، او کله مو چې د خره آواز واورېد له شيطان څخه پر الله تعالی پناه غواړئ ځکه چې هغه دغه مهال شيطان ويني .

او فرمايي :« إِذَا سَمِعْتُمْ نُبَاحَ الْكِلاَبِ وَنَهِيقَ الْحُمُرِ بِا للَّيْلِ فَتَعَوَّذُوا بِاللَّهِ ، فَإِنَّهُنَّ يَرَيْنَ مَا لاَ تَرَوْنَ »

ژباړه : کله مې چې په شپه کې د سپيو او خرو آواز واورېد په الله پناه وغواړئ ، ځکه هغوی داسې څه ويني چې تاسې نه وينئ .

## د قهر او عصبي په وخت دعا

«أَعُوذُ بِاللّه مِن الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ »

ژباړه: زه په الله سره له رټل شوي شيطان نه پناه غواړم .

## د پور يا قرض نه د نجات دعا

«اللَّهُمَّ اكْفِنِيْ بِحَلاَلِكَ عَنْ حَرَامِكَ وَأَغْنِنِيْ بِفَضْلِكَ عَمَّنْ سِوَاكَ» [سنن الترمذي: ۵ / ۵۶۰].

ای الله! زما احتياجات او اړتياوې له حلال رزق څخه پوره کړه او ما د حرامو له خوړلو وساتې او بغير له تا څخه ما د نورو ټولو نه ستا په فضل او مرحمت سره بې نيازه کړې .

## د ايمان د ثبات دعا

حضرت انس رضی الله عنه وايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم به دا دعا ډيره لوستله:

«يا مُقَلِّبَ القُلوبِ ثَبِّت قَلبي عَلَى دِينِكَ » (الترمذی: ۲۱۴۰و احمد: ۱۶۰/۱۹ ).

ژباړه :ای د زړونو بدلونکی خدايه! زما زړه ستا په دين ثابت وګرځوه .

## د هدايت دعا

«يَا عِبَادِي: كُلُّكُمْ ضَالٌّ إِلاَّ مَنْ هَدَيْتُهُ فَاسْتَهْدُونِي أَهْدِكُمْ» (رواه مسلم ).

ژباړه: ای زما بندګانو ! ټول د تاسې لار ورکي او ګمراه ياست مګر هغه څوک چې ما ورته هدايت کړی وي ، پس زما څخه هدايت وغواړئ چې زه تاسې ته هدايت وکړم .

د ځان او خپل اهل عيال د پاره د هدايت دعا کوئ د اهل عيال د پاره د هدايت دعا ځکه خاص اهميت لري چې که خدای مه کړه هغوی بې لاري شي ستا څخه به يې پوښتنه کيږي ځکه چې ته د هغوی پر وړاندې مسئول يې، او بل دا چې الله سبحانه وتعالی د ربښتني مؤمنانو د صفاتو څخه يو همدا صفت بيانوي چې:

هغوی د خپل ځان په اصلاح اکتفا نه کوي بلکي د خپل اهل عيال اصلاح هم له خپل رب څخه غواړي، قال تعالی :[وَالَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَا هَبْ لَنَا مِنْ أَزْوَاجِنَا وَذُرِّيَّاتِنَا قُرَّةَ أَعْيُنٍ وَاجْعَلْنَا لِلْمُتَّقِينَ إِمَامًا] ( الفرقان: ۷۴).

## د غم او پریشانی دعا

ابن عباس رضی الله عنهما وايي چې جناب رسول الله صلى الله علیه وسلم به د غم ، مشکل او پریشانی په وخت کې دا دعا لوستله :« لا إِلَٓهَ إِلاَّ اللَّهُ الْعَظِيمُ الْحَلِيمُ، لا إِلَٓهَ إِلاَّ اللَّهُ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ، لا إِلَٓهَ إِلاَّ اللَّهُ رَبُّ السَّمَوَاتِ وَرَبُّ الأَرْضِ وَرَبُّ الْعَرْشِ الْكَرِيمِ (رواه البخاري ومسلم).

ژباړه: د ستر او بردباره الله پرته بل معبود برحق نشته ، د الله پرته چې د ستر عرش پروردګار دی بل برحق معبود نشته ، د الله پرته چې د آسمانونو او ځمکې او عرش کريم پروردګار دی بل معبود برحق نشته .

## د هر کار په پیل کې «بسم الله » ویل

د هر کار په پیل کې (بسم الله ) ویل :

د تعجب او خوشحالی په حالت کې :« سبحان الله » ، «الله أكبر» ويل .

د خوشحالی د خبرې په اوریدولو په وخت کې: «الحمدلله» ويل .

د خپه کوونکي خبر او غم په وخت کې : «انا لِلّه و انا اليه رَاجعُون » .

د ښه شي ليدلو او صفت په وخت کې : «ماشآء الله» .

د غلطی ليدلو وروسته : «أستغفر الله» ويل .

## دریم فصل

## مطلق (غیر مقید ) اذکار

مخکې مو وویل چې اذکار په مطلق او مقید سره ویشل شوي دي ، مقید هغه اذکار دي چې په وخت ، ځای یا شمیر سره مقید شوي وي لکه : د سبا او ماښام اذکار ، د لمانځه وروسته اذکار ، د خوب او خوراک اذکار او نور .

او مطلق هغه اذکار دي چې په وخت او ځای سره مقید شوي نه وي بلکي د ورځې یا شپې په هره حصه کې یې ویل جایز دي لکه : د قرآنکریم تلاوت د ورځې او شپې په هره حصه کې یې تلاوت زیات اجر او ثواب لري مګر د قرآن د تلاوت لپاره غوره او افضل وخت د شپې آخره حصه او یا د سهار د لمانځه وروسته ، همدارنګه «لا اله الا الله » ، «سبحان الله» ، «الله اکبر» او نور اذکار مطلق اذکار بلل کیږي .

## د قرآن کریم تلاوت

د قرآنکریم د هر توري په تلاوت سره مؤمن ته لس نیکی لیکل کیږي .

له ابن مسعود رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي :« مَنْ قَرَأَ حَرْفًا مِنْ كِتَابِ اللَّهِ فَلَهُ بِهِ حَسَنَةٌ، وَالحَسَنَةُ بِعَشْرِ أَمْثَالِهَا، لَا أَقُولُ الم حَرْفٌ، وَلَكِنْ أَلِفٌ حَرْفٌ وَلَامٌ حَرْفٌ وَمِيمٌ حَرْفٌ ». (رواه الترمذي والدارمی و سلسلة صحيحة).

ژباړه: چا چې د قرآن یو حرف ولوستلو، نو هغه لره یوه نیکي ده او د یوې نیکی لس چنده بدله ده (د وضاحت لپاره فرمایي :) زه دا نه وایم (یعني زما مطلب دا

نه دی) چه الم یو حرف دی، بلکه الف یو حرف دی لام یو حرف دی او میم یو حرف دی.

ابی سعید خدري رضی الله عنه وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: « يقول الرب عز وجل من شغله القرآن عن ذكري وعن مسألتي أعطيته أفضل ما أعطي السائلين وفضل كلام الله على سائر الكلام كفضل الله على خلقه ». (رواه الترمذی والدارمی و البیهقی فی شعب الا یمان).

ژباړه: د الله تبارک وتعالی ارشاد دی: چه کوم سړی قرآن مجید مشغول وساتلو زما په ذکر سره او زما نه په سوال او دعا کولو سره زه به هغه ته د هغې نه غوره ورکړم کوم چه سوال کوونکو او دعا کوونکو ته یې ورکوم او د نورو خبرو په پرتله د الله تعالی کلام یا خبرې ته داسې عظمت او فضیلت حاصل دی لکه د خپل مخلوق په مقابله کې چه الله تعالی ته فضیلت حاصل دی .

**د ماهر قرآن مقام**

عن عايشه قالت رسول الله صلی الله علیه وسلم :«الماهر بالقرآن مع السفرة الكرام البررة، والذي يقرأ القرآن ويتتعتع فيه وهو عليه شاق له أجران» (رواه مسلم).

ژباړه: د حضرت عایشه رضی الله عنها نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: چا چې په قرآن کې مهارت حاصل کړی وي او هغه د یاد نه یا د مخې نه په بهتره طریقي سره او بې تکلیفه روان لولي هغه به د معزز وفا دارو او فرمانبردارو فرښتو سره وي او کوم بنده چه قرآن پاک د ښه نه یادولو یا د نه روانیدو په وجه سره په زحمت او مشقت سره داسې وایي چه په هغی کې نښلي نو هغه ته به دوه اجرونه ورکول کیږي (یو دتلاوت او بل د زحمت او مشقت) .

## د قرآن تلاوت د غفلت څخه نجات دی:

ابی هریرة رضي الله عنه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي :«من قرء عشر ايات في ليلة لم يكتب من الغافلين» (رواه حاکم ،حديث صحيح).

ژباړه: څوک چې لس آيتونه د شپې تلاوت کړي هغه به د غافلينو نه شمارل کيږي.

## د «لا اله الا الله » ذکر

جابر رضى الله عنه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي :«أفضل الذكر لا إله إلا الله وأفضل الدعاء الحمد لله» (المشكاة المصابيح ٢/٤٣٥).

ژباړه: په ټولو کې غوره ذکر «لاإله إلاالله» دی او په ټولو کې غوره دُعا «الحمدلله» ده.

له ابی سعيد الخدري رضى الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي :

« قال موسى: يا رب علمني شيئاً أذكرك به،وأدعوك به، قال: يا موسى قل لا إله إلا الله، قال: يا رب كل عبادك يقول هذا، قال: قل لا إله إلا الله، قال: إنما أريد شيئاً تخصني به، قال: يا موسى! لو أن أهل السماوات والأراضين السبع في كفة ولا إله إلا الله في كفة مالت بهنّ لا إله إلاالله» (رواه النسائي في عمل اليوم والليلة، وابن حبان في صحيحه)

ژباړه: يو ځل موسى عليه السلام د الله پاک په دربار کې عرض وکړ چې ما ته يو شی وښايه چې په هغې سره زه تا يادوم او تا پرې بولم ، الله پاک وفرمايل: «لا إله

إلا الله» وايه ، ده عرض وكړ چې دا خو ستا ټول بندګان وايي ، ارشاد وشو چې «لا اله الا الله» وايه (موسى ) عرض وكړ زما ربه زه داسې مخصوص شى غواړم چې بس ما ته راكړ شي ،ويي فرمايل اى موسى! كچېرې اوه آسمانونه او ځمكې د تلې په يوه پله كې كېښودل شي او «لا إله إلا الله» په بل طرف كې كېښودل نو «لا إله إله الله» به دروند شي .

« لا الـه الا الله » تر ټولو غوره ذكر دى چې ددې ذكر لپاره وخت او شمېر په سنتو كې نه دى ټاكل شوى هر څومره زيات يې چې څوك وايى په همغه اندازه به ثواب ورته ليكل كيږى .

## د «سبحان الله وبحمده ، سبحان الله العظيم » ذكر

جناب نبى صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «كلمتان خفيفتان على اللسان ، ثقيلتان في الميزان ، حبيبتان إلى الرحمن : سبحان الله و بحمده ، سبحان الله العظيم» (صحيح البخاري ۷۵۶۳).

ژباړه: دوې كلمې په ژبه ډيرې آسانه دي او په تله د ميزان كې ډېرې درنې دي او الله ته ډيرې خوښې دي هغه: سبحان الله و بحمده ، سبحان العظيم .

ابى هريره رضى الله عنه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي : « لأن أَقُولَ سبْحانَ اللَّه، وَالحَمْدُ للَّه، ولا إِلَـه إِلاَّ اللَّه، وَاللَّه أَكْبر، أَحبُّ إِليَّ مِمَّا طَلَعَت عليهِ الشَّمْسُ » (رواه مسلم).

ژباړه : دا چې ووايم : «سبحان الله و الحمدلله ،ولا اله الا الله والله أكبر» ماته تر دغه ټولو كائناتو چې لمر پرې راخليږي خوښ دي .

له ابى مالك حارث بن عاصم اشعري رضى الله نه روايت دى چې رسول الله صلى الله عليه فرمايلي:

«الطُّهُورُ شَطْرُ الإِيْمَانِ، وَالْحَمْدُ للهِ تَمْلأُ الْمِيزَانَ، وَسُبْحَانَ اللهِ وَالْحَمْدُ للهِ تَمْلآنِ -أَوْتَمْلأُ- مَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالأَرْضِ» (رواه مسلم).

ژباړه : پاكي او نظافت نيم ايمان دى ، او الحمدلله (ويل داسې نيكي ده) چې د ميزان پله ډكوي او سبحان الله او الحمدلله د آسمان او ځمكې منځ ډكوي .

## د « لا حول و لا قوة » ذكر

له ابو موسى اشعري رضى الله عنه څخه روايت دى چې رسول صلى الله عليه وسلم ما ته وويل : اى عبدالله بن قيس! و مې ويل : لبيک يا رسول الله ، ويې فرمايل : آيا تا ته داسې كلمه و نه ښيم چې د جنت له خزانو څخه يوه خزانه ده ؟ و مې ويل : هو يا رسول الله زما پلار او مور تر تا قربان شي ، ويې فرمايل : «لا حَوْلَ وَلا قُوَّةَ إلا بِاللَّهِ» (رواه البخاري) .

ابى هريره رضى الله عنه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي :«لا حول ولا قوة إلا بالله دواء من تسعة وتسعين داء أيسرها الهم» ( رواه الطبراني في الأوسط) .

ژباړه : «لا حول و لا قوة الا بالله» د ٩٩ مرضونو دوا ده چې آسانه يې د غم لرې كول دى.

پورته ذکر شوي څلور اذکار الباقيات الصالحات بلل کيږي .

په حديث شريف کې راغلي : له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه چا پوښتنه وکړه چې باقيات صالحات څه دي ؟ وېې فرمايل :«التكبير، والتهليل، والتسبيح، والحمد لله، ولا حول ولا قوة إلا بالله »، [رواه مالك و ابن حبان ، وصححه الحاكم].

## د «لا إله إلا الله، وحده لا شريك له ...» ذكر

له أبي هريرة رضي الله عنه څخه روايت دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «من قال: لا إله إلا الله، وحده لا شريك له، له الملك وله الحمد، وهو على شيء قدير. في يوم مائة مرة، كانت له عدل عشر رقاب، وكتبت له مائة حسنة، ومحيت عنه مائة شيءة، وكانت له حرزا من الشيطان يومه ذلك حتى يمسي، ولم يأت أحد بأفضل مما جاء به، إلا أحد عمل أكثر من ذلك» ( صحيح البخاري: ٣١١٩ ).

ژباړه: څوک چې د ورځې سل ځله «لَا إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ، وَحْدَهُ لا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ » ووايي هغه ته به د لسو غلامانو د آزادولو ثواب رسي ، او هغه د پاره به سل نيکی وليکل شي او د هغې نه به سل بدی يا کوچني ګناهونه پاک شي ، او په هغه ورځ به د شيطان څخه ساتل شوی وي او هيڅ څوک به ( د قيامت په ورځ ) د ده څخه غوره عمل پيش نه کړي مګر هغه کس چې د ده څخه يې زيات عمل کړی وي .

**«استغفار » ویل**

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي :«و الله انی استغفرو الله و اتوبو الیه فی اکثر من سبعین مرة »(رواه البخاري ) .

ژباړه: په الله پاک قسم چې زه په ورځ کې له اويا ځلو زيات د الله تعالی څخه مغفرت غواړم او د هغه دربار کې توبه وباسم .

همدارنګه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي: «يَا أَيُّهَا النَّاسُ تُوبُوا إِلَى اللَّهِ وَاسْتَغْفِرُوهُ، فَإِنِّي أَتُوبُ إِلَى اللَّهِ، وَأَسْتَغْفِرُهُ فِي كُلِّ يَوْمٍ مِائَةَ مَرَّةٍ»

ژباړه : ای خلکو الله ته توبه وباسئ او د هغه څخه بخښنه وغواړئ ، ځکه زه په ورځ کې سل ځله الله تعالی ته توبه او استغفار باسم .

له ابن عباس رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي: «من لزم الاستغفار جعل الله له من کل ضیق مخرجاً و من کل هم فرجاو رزقه من حیث لا یحسب» (سنن ابی داؤد ) .

ژباړه: چا چې استغفار کول پر خپل ځان لازم وګرځول نو الله پاک به ده ته د هرې سختی څخه د خلاصون لاره پیدا کړي او د هر درد او غم څخه به یې خلاصوي او د داسې طرف نه به رزق ورکوي چې د ده ګمان هم نه وي .

په ټولو کې غوره استغفار « سید الأستغفار » دی کوم چې د سبا او ماښام په اذکار کې بیان شو .

## اسماء الحسنى

له ابى هريره رضى الله عنه څخه روايت دى چې آنحضرت صلى الله عليه وسلم فرمايلي : إِنَّ لِلَّهِ تِسْعَةً وَتِسْعِينَ اسْمًا مِائَةً إِلا وَاحِدًا مَنْ أَحْصَاهَا دَخَلَ الْجَنَّةَ مائة (رواه البخاري و مسلم ) .

ژباړه : د الله تعالى نه نوي نومونه دي هر چا چې هغه ياد كړل يا يې تلاوت كړل نو جنت ته به داخل شي .

او اسماء الحسنى دا دي :

«هو الله الذي لا إله إلا هو الرحمن الرحيم الملك القدوس السلام المؤمن المهيمن العزيز الجبار المتكبر الخالق البارئ المصور الغفار القهار الوهاب الرزاق الفتاح العليم القابض الباسط الخافض الرافع المعز المذل السميع البصير الحكم العدل اللطيف الخبير الحليم العظيم الغفور الشكور العلي الكبير الحفيظ المقيت الحسيب الجليل الكريم الرقيب المجيب الواسع الحكيم الودود المجيد الباعث الشهيد الحق الوكيل القوي المتين الولي الحميد المحصي المبدئ المعيد المحيي المميت الحي القيوم الواجد الماجد الواحد الصمد القادر المقتدر المقدم المؤخر الأول الآخر الظاهر الباطن الوالي المتعالي البر التواب المنتقم العفو الرءوف مالك الملك ذو الجلال والإكرام، المقسط الجامع الغني المغني المانع الضار النافع النور الهادي البديع الباقي الوارث الرشيد الصبور».

## اسم اعظم

د اسم اعظم په باره کې څه د پاسه خلویښت اقوال دي چې تر ټولو قوي اقوال په لاندې ډول دي :

١- عن بريدة الاسلمي قال: سَمِعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلًا يَدْعُو وَهُوَ يَقُولُ: اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ بِأَنِّي أَشْهَدُ أَنَّكَ أَنْتَ اللَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ الْأَحَدُ الصَّمَدُ الَّذِي لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ وَلَمْ يَكُنْ لَهُ كُفُوًا أَحَدٌ .قَالَ: فَقَالَ: "وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ، لَقَدْ سَأَلَ اللَّهَ بِاسْمِهِ الْأَعْظَمِ الَّذِي إِذَا دُعِيَ بِهِ أَجَابَ وَإِذَا سُئِلَ بِهِ أَعْطَى". [أخرجه أبو داود (1493) والترمذي (3475)، وابن ماجة (3857)].

ژباړه: د بریده اسلمي رضی الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د یو سړي دا دعا واوریده چې ویل یې (اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ بِأَنِّي أَشْهَدُ أَنَّكَ أَنْتَ اللَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ الْأَحَدُ الصَّمَدُ الَّذِي لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ وَلَمْ يَكُنْ لَهُ كُفُوًا أَحَدٌ )، روایت کوونکی وایي چې بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : قسم دې وي زما په هغه ذات باندې چې زما روح د هغه په لاس کې دی چې یقیناً ده د الله په اسم اعظم باندې سوال وکړ هغه اسم اعظم چې کله په هغې باندې دعا وشي نو هغه قبلیږي او چې کله د هغې پوسیله وغوښتل شي نو ورکول کیږي .

٢- عن انس بن مالک قال سمع رسول الله صلی الله علیه وسلم رجلاً یقول : «اللهم إني أسالك بان لك الحمد لااله الا انت المنان بديع السماوات و الارض ياذا الجلال و الاكرام ياحي ياقيوم فقال النبي : لقد دعا الله تعالى باسمه العظيم الذي اذا دعي به اجاب واذا سئل به اعطى» [رواه أحمد و البخاري في الادب المفرد و رواه الاربعة].

ژباړه: له انس رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د یو سړي څخه واوریدل چې ویل یې : (اللهم إني أسالك بان لك الحمد لااله الا انت المنان بديع السماوات و الارض ياذا الجلال و الاكرام ياحي ياقيوم ) پس رسول الله وفرمايل : چې هغه په اسم اعظم باندې سوال وکړ ځوک چې په دې باندې سوال وکړي قبليږي او چې کله د هغې پوسيله څه وغوښتل شي نو ورکول کيږي .

٣- عن أسماء بنت يزيد ، عن رسول الله أنه قال: "اسم الله الأعظم في هاتين الآيتين: ( وَإِلَهُكُمْ إِلَهٌ وَاحِدٌ لا إِلَهَ إِلا هُوَ الرَّحْمَنُ الرَّحِيمُ ) و الم * اللَّهُ لا إِلَهَ إِلا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ [آل عمران: 1، 2] (رواه أبوداود و صحيح الجامع) .

ژباړه : له اسماء بنت يزيد رضی الله عنها څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : اسم اعظم په دې دوه آیتونو کې دی (وَإِلَهُكُمْ إِلَهٌ وَاحِدٌ لا إِلَهَ إِلا هُوَ الرَّحْمَنُ الرَّحِيمُ) او د سورت آل عمران په شروع کې (الم * اللَّهُ لا إِلَهَ إِلا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ) .

او د امامة رضی الله عنه په حدیث کې بیا اسم اعظم د البقرې سورت دا آیت (اللَّهُ لا إِلَهَ إِلا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ) ، د سورت آل عمران (الم * اللَّهُ لا إِلَهَ إِلا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ) ، او سورت طه دا آیت (وَعَنَتِ الْوُجُوهُ لِلْحَيِّ الْقَيُّومِ) آيتونو کې ښودل شوی دی .

٤- د امام ابی حنيفه ، امام طحاوي ، ابن قيم او نورو ډيرو علماؤ رحمهم الله قول دا دی چې اسم اعظم ( الله) دی .

وقال ابن أمير حاج الحنفي – رحمه الله: -

عن محمد بن الحسن قال : سمعتُ أبا حنيفة رحمه الله يقول : اسم الله الأعظم هو " الله , " وبه قال الطحاوي وكثير من العلماء , وأكثر العارفين.

وقال ابن عابدين في رد المحتار :وروى هشام عن محمد عن أبي حنيفة أنه اسم الله الأعظم، وبه قال الطحاوي وكثير من العلماء .انتهى

و مدارج السالكين ۱/۲۱ لابن قيم .

و الله سبحانه وتعالى اعلم

**درود شريف**

الله سبحانه وتعالى فرمايي: [إِنَّ اللَّهَ وَمَلاَئِكَتَهُ يُصَلُّونَ عَلَى النَّبِيِّ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا صَلُّوا عَلَيْهِ وَسَلِّمُوا تَسْلِيمًا] (الاحزاب ۵۶ ).

ژباړه: يقيناً چې الله او د هغه پرښتي پر رسول صلى الله عليه وسلم درود وايي . اى مؤمنانو ! تاسي هم پر ده درود وواياست او په پوره خلوص ور ته سلام وکړئ .

۱- جناب نبى صلى الله عليه وسلم فرمايلي :« من صلَّى عليَّ صلاَة، صلَّى اللَّه علَيّهِ بِهَا عشْراً » (مسلم ۱/۲۸۸ ) .

ژباړه: چا چې پر ما باندې يو درود واستولو الله پاک به هغه ته لس درود واستوي

۲- له ابى هريره رضى الله عنه څخه روايت دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي :

«وَصلُّوا عَلَي، فَإنَّ صَلاتَكُمْ تَبْلُغُني حيْثُ كُنْتُمْ» ( ابوداود ۲/۳۸۳- احمد ۲/ ۳۶۷ )

ژباړه: ما ته درود واستوئ ځكه ستاسې درود هر چيرې چې وي ما ته رسيږي .

٣- لـه ابى هريـره رضـى الله عنـه څخـه روايـت دى چې رسـول الله صـلى الله عليـه وسلم فرمايلي :

« الْبخِيلُ من ذُكِرْتُ عِنْدَه، فَلَم يُصَلِّ علَيَّ » . (رواهُ الترمذي وقال: حديثٌ حسنٌ صحيح).

ژبـاړه: بخيـل هغـه څـوک دى چې (زمـا نـوم د ده پـه حضـور كي ) واخيسـتل شي او هغه په باندې درود (صلى الله عليه وسلم ) و نه وايي .

٤- لـه ابى هريـره رضـى الله عنـه څخـه روايـت دى چې رسـول الله صـلى الله عليـه وسلم فرمايلي :

« ما مِـنْ أحد يُسلِّمُ علَيَّ إلاَّ ردَّ اللَّه علَيَّ رُوحي حَتَّى أرُدَّ عَليهِ السَّلامَ » (رواهُ أبـو داود بإسناد صحيح).

ژباړه: هر څوک چې ما ته سلام وړاندې کړي ، الله پاک ما ته خپل روح را ګرځـوي تر څو د هغه سلام ځواب ورکړم .

٥- لـه اوس رضى الله عنـه څخـه روايـت دى چې رسـول الله صـلى الله عليـه وسـلم فرمـايلي :«إنَّ مِـن أَفْضَـلِ أيَّامِكُـمْ يَـوْمَ الجُمُعـة، فَـأَكْثِرُوا علـيَّ مِـنَ الصـلاةِ فيـه، فـإنَّ صَلاتَكُمْ معْرُوضَةٌ علَيَّ» ( رواه ابوداود باسناد صحيح )

ژباړه: يقيناً د تاسو د ورځو غوره ورځ جمعه ده ، په دغه ورځ پر ما باندې زيات درد وايئ ، ځكه ستاسې درودونه ما ته وړاندې كيږي .

۶- لـه ابـن مسعـود رضی الله عنـه څخـه روايـت دی چې رسـول الله صلی الله عليـه وسـلم فـرمايلي :« أَوْلى النَّاسِ بي يـوْمَ الْقِيامةِ أَكْثَرُهُم عَليَّ صلاةً » (رواه الترمذي باسناد حسن).

ژباړه : د قيامت په ورځ به ما ته نږدې خلک (د شفاعت لپاره) هغه وي چې پر ما يې زيات درود استولی وي.

۷- لـه فضالـه بـن عبيـد رضی الله عنـه څخـه روايـت دی چې رسـول الله صلی الله عليه وسلم د يو سړي دعا واورېد چې د لمانځه وروسته يې کوله ، چې نه يې پکې د الله لويي او ثنا ولوسته او نه يې په رسول الله درود واستاوا .

رسـول الله صـلی الله عليـه وسـلم وفرمايـل : دا سـړي بيړه وکـړه . بيـا يـې هغـه را وغوښـت او ورتـه يې وفرمايـل :« إذا صلَّى أحَـدُكُمْ فليبْـدأْ بِتَحْمِيـدِ رِبِّـهِ سُـبْحانَهُ والثَّنَاءِ عليه، ثُمَّ يُصلي عَلى النبي صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وسَلَّم ثُمَّ يدْعُو بَعدُ بِما شاءَ »

ژباړه: کله چې د تاسې نه کوم څوک لمونځ ادا کړي بايد (دعـا) د خپل رب په حمد او ثنـاء شـروع کـړي او بيـا پـه پيغمبر صلی الله عليـه وسـلم بانـدې درود واسـتوي وروسته دې د خپلې خوښې دعا وکړي.

۸- د ابو محمد کعب بن عجره نه روايت دی چې وايي : رسـول الله صلی الله عليه وسلم مونږ ته راغی ومي ويل : ای رسـول الله صلی الله عليه وسلم ! پر تـا څرنګه سـلام ووايـم او څرنګه پـر تـا درود واسـتوو ؟ رسـول الله صلی الله عليـه وسـلم و فـرمايـل : اللَّهُـمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّـدٍ، وعَلَى آلِ مُحَمَّـدٍ، كَمَـا صَلَّيْتَ عَلَى آلِ إبْرَاهِيمَ،

إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجيدٌ. اللَّهُمَّ بَارِكْ عَلَى مُحَمَّدٍ، وعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ، كَمَا بَارَكْتَ عَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ، إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجْيدٌ (البخاري ) .

په ټولو کې غوره درود همدا درود دی کوم چې مونږ يې په لمانځه کې وايو .

## څلورم فصل

## د اذکارو په باره کې څو مسائل

### جهري ذکر کول څه حکم لري ؟

ځواب : الحمد لله والصلوة والسلام على رسوله وآله وصحبه وسلم .. وبعد:

بايد د ذکر کوونکي آواز د اوريدو په اندازه وي ځکه ذکر کوونکی د الله تعالى مناجات کوي او الله تعالى تر ټولو ښه اوريدونکی دی .

ښايي ذکر په لوړ آواز نه وي بلکي په دومره اندازه چې سړی يې خپله واروي ، ځکه چې داسې کول خشوع ته نږدې او له ريا څخه لرې دي ، لقوله سبحانه وتعالى :[ وَاذْكُرْ رَبَّكَ فِي نَفْسِكَ تَضَرُّعًا وَخِيفَةً وَدُونَ الْجَهْرِ...]

ژباړه : او خپل رب په خپل زړه کې (له ځانه سره ) په زارۍ او وېره ، نه په لوړ آواز ياد کړه.

يَنْبَغِي أَنْ يُرَاعَى مِقْدَارُ رَفْعِ الصَّوْتِ ،الْمَأْذُونِ بِهِ فِي الذِّكْرِ ، فَالأَصْلُ أَنَّ الذَّاكِرَ يُنَاجِي رَبَّهُ ، وَاللَّهُ تَعَالَى قَدْ وَسِعَ سَمْعُهُ الأَصْوَاتَ ،

فَيَنْبَغِي أَنْ لا يَجْهَرَ بِالذِّكْرِ فَوْقَ مَا يُسْمِعُ نَفْسَهُ ؛ لأَنَّ ذَلِكَ أَقْرَبُ لِلْخُشُوعِ وَأَبْعَدُ مِنَ الرِّيَاءِ ، وَقَدْ قَالَ اللَّهُ تَعَالَى : { وَاذْكُرْ رَبَّكَ فِي نَفْسِكَ تَضَرُّعًا وَخِيفَةً وَدُونَ الْجَهْرِ مِنَ الْقَوْلِ بِالْغُدُوِّ وَالآصَالِ وَلا تَكُنْ مِنَ الْغَافِلِينَ }

(موسوعة الفقهية ج ٢١ ص ٢٥٠).

## جماعي (ډله ییز ) ذکر کول څه حکم لري ؟

ځواب : الحمد لله والصلوة والسلام على رسوله وآله وصحبه وسلم .. وبعد:

د ذکـر ، شـرعي علـم او وعـظ لپـاره جمـع کیـدل کـار د خیر دی ، د الله تعـالی د رحمت د نزول سبب کرځي.

جناب نبی صلی الله علیه وسلم فرمایلي : «مَا اجْتَمَعَ قَوْمٌ فِي بَيْتٍ مِنْ بُيُوتِ اللَّهِ يَتْلُونَ كِتَابَ اللَّهِ وَيَتَدَارَسُونَهُ بَيْنَهُمْ إِلَّا نَزَلَتْ عَلَيْهِمْ السَّكِينَةُ وَغَشِيَتْهُمْ الرَّحْمَةُ وَحَفَّتْهُمْ الْمَلَائِكَةُ وَذَكَرَهُمْ اللَّهُ فِيمَنْ عِنْدَهُ » (رواه مسلم و ابوداود ).

ژباړه : کوم خلک چې د الله د ذکر لپاره را جمع شي نـو پرښـتې په هغوی را تاويږي ، او رحمـت هغـوی را نغـاړي ، د زړه اطمنـان او سـکينه وربانـدې نـازليږي ،او الله تعالی هغوی په ملائکو کې يادوي .

مګر که ذکر د يوې ډلې لخوا په يو صوت او آواز وي چې د ځنو عرب له ځنې نـورو سره موافق وي که چيرې د التزام په ټوګه وي بدعت دی او د هغه نه پرهيز پکار دی ، ځکـه چې پـه شـريعت کې د داسې ډلـه ييز ذکـر چې پـه يـو آواز سـره وي د استحباب څه ثبوت نشته . نو ځوک چې په شرع کې په غير لازم شي باندې التزام لګوي د شک پرته بدعت دی .

الـذِّكْرُ الْجَمَـاعِيُّ : وَهُـوَ مَـا يَنْطِقُ بِـهِ الـذَّاكِرُونَ الْمُجْتَمِعُـونَ بِصَـوْتٍ وَاحِـدٍ يُوَافِـقُ بَعْضُهُمْ بَعْضًا ، وَقَدْ جَعَلَهُ

إِذَا الْتُزِمَ بِدْعَةً إِضَافِيَّةً تُجْتَنَبُ ، إِذَا نَدَبَ الشَّرْعُ إِلَى ذِكْرِ اللَّهِ فَالْتَزَمَ قَوْمٌ الاجْتِمَاعَ عَلَيْهِ عَلَى لِسَانٍ وَاحِدٍ وَصَوْتٍ وَاحِدٍ لَمْ يَكُنْ فِي نَدْبِ الشَّرْعِ مَا يَدُلُّ عَلَى هَذَا التَّخْصِيصِ الْمُلْتَزَمِ ؛ لأَنَّ الْتِزَامَ الأُمُورِ غَيْرِ اللازِمَةِ يُفْهَمُ عَلَى أَنَّهُ تَشْرِيعٌ ، فَلَمْ يَتَنَاوَلْهَا الدَّلِيلُ الْمُسْتَدَلُّ بِهِ ، فَصَارَتْ مِنْ هَذِهِ الْجِهَةِ بِدَعًا مُحْدَثَةً .

(موسوعة الفقهية ج ٢١ ص ٢٥٣ ).

## د ذكر او مناجاتو سره د موسيقۍ د آلاتو ږغول څه حكم لري ؟

ځواب :الحمد لله والصلوة والسلام على رسوله وآله وصحبه وسلم .. وبعد

:د موسيقۍ د آلاتو ږغول حرام صوت شيطان بلل كيږي .

په حديث شريف كې راغلي : «صوتان ملعونان في الدنيا والآخرة، مزمار عند نعمة، ورنة عند مصيبة» (رواه بزار في مسنده، إسناده حسن، السلسلة الصحيحة ٤٢٧ بإسناد حسن).

ژباړه: په دنيا او آخرت كې دوه ملعون (واجب لعنت) آوازونه دي، چې: يو د موسيقۍ د آلاتو غږ د سندرو په وخت كې او بل د مصبت په وخت كې آواز دی.

آيا د دغو ملعونو شيطاني وسائل كارول به څنګه په ذكر او عبادت كې جايز وي ؟

فتاوى الهندية ليكي :

زمونږ په زمانه كې د ځنو صوفيانو قوالي ، مناجات له موسيقۍ سره او رقص او نڅا كول حرام دی په هغه كې ګډون او ناستى حرام دی او دا عينې موسيقي او سندرې دي .

السماع وقول و رقص الذى يفعله المتصوفة فى زماننا حرام لايجوز القصد اليه والجلوس عليه وهو الغناء والمزامير سواء .

كَذَا في التَّتَارْخَانِيَّة قال رَحِمَهُ اللَّهُ تَعَالَى السَّمَاعُ وَالْقَوْلُ وَالرَّقْصُ الذي يَفْعَلُهُ الْمُتَصَوِّفَةُ في زَمَانِنَا حَرَامٌ لَا يَجُوزُ الْقَصْدُ إلَيْهِ وَالْجُلُوسُ عليه وهو وَالْغِنَاءُ وَالْمَزَامِيرُ سَوَاءٌ (فتاوى هنديه ۵/۳۵۱ ) .

مفتى كفايت الله دهلوي رحمه الله وايي:

سماع متعارف يعنى قوالى د ډهول ،سيتار ، سورني وغيره سره د شرعي محرماتو څخه دي او د عامو او خاصو لپاره ناجائز دي .

اشعار او نعت خواني د موسيقى له آلاتو سره دا ټول شرعاً منع او بدعت دى «كل بدعة ضلالة »، بدعت ته رواج وركونكى ،په هغه کې شريک کيدونکى او اوريدونكى ټول فاسيقان دي (كفايت المفتي: ۹۹/۲ ) .

## په شريكه د قرآن ختم څه حكم لري ؟

جواب : الحمد لله والصلوة والسلام على رسوله وآله وصحبه وسلم .. وبعد:

**اول صورت:** داچې د قرآنكريم د تلاوت د پاره جمع كيدل د هغه په داسې طريقه ويل چې يو قرآن وايي او نور عوږ ورته نيسي د هغه په معنى كې تدبر او فكر كول واقعاً د خير كار دى الله تعالى هغه قبلوي او د هغې په بدل كې اجر وركوي.

پيغمبر صلَى اللَّه عليْه وآلِه وسلَّم فرمايلي :«مَا اجْتَمَعَ قَوْمٌ فِي بَيْتٍ مِنْ بُيُوتِ اللَّهِ يَتْلُونَ كِتَابَ اللَّهِ وَيَتَدَارَسُونَهُ بَيْنَهُمْ إِلَّا نَزَلَتْ عَلَيْهِمْ السَّكِينَةُ وَغَشِيَتْهُمْ الرَّحْمَةُ وَحَفَّتْهُمْ الْمَلَائِكَةُ وَذَكَرَهُمْ اللَّهُ فِيمَنْ عِنْدَهُ » (رواه مسلم و ابوداود ).



*Download From; Aghalibrary.com*

ژباړه : کوم خلک چې د الله د ذکر لپاره را جمع شي نو پرښتې په هغوی را تاویږي ، او رحمت هغوی را نغاړي ، د زړه اطمنان او سکینه وربانديې نازليږي ، او الله تعالی هغوی په ملائکو کې یادوي .

**دوهم صورت**: دا چې د قرآنکریم سپارې د حاضرینو په منځ کې تقسیم کړي او هر یو پخپله قرآنکریم په زوره سره وایي چې داسې ډول لوستل مکروه دي اول خو افضل دا دی چې یو ښه لوستونکی یې ووایي او نور عږ وي په هغه کې تدبر وکړي خو که داسې نه وي نو بیا به هر یو قرآنکریم په کراره سره وایي (کفایت المفتي / مفتي کفایت الله دهلوي رحمه الله )

و یکره للقوم أن یقروا القرآن جملة لتضمنها ترک الاستماع (عالمگیري ۵/ ۳۱۷ )

و جاء في فتاوی اللجنة الدائمة :

دا چې د قرآنکریم سپارې د حاضرینو په منځ کې تقسیم کړي او هر یو کس پخپله د قرآنکریم څه حصه تلاوت کړي ، د هیڅ یوه د پاره د قرآن ختم نه شمیرل کیږي فقط د تبرک په نیت د قرآن په تلاوت کې یو ډول نقص او کمی دی ،ځکه د قرآن د لوستلو نه هدف الله تعالی ته نږیدیوالی دی او د هغه حفظ کول ،په هغه کې تدبر کول او د هغه په احکامو پوهیدل او د هغه له بیاناتو څخه عبرت او پند اخیستل موجب د ثواب ګرځي.

دا طریقه ځکه نا مشروع ده چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم او اصحابو کرامو څخه نه ده ثابته شوې ،که د حفظ او تعلیم د پاره وي نو باک نه لري.



Download From; Aghalibrary.com

ثانياً : توزيع أجزاء من القرآن على من حضروا الاجتماع ليقرأ كل منهم لنفسه حزباً من القرآن لا يعتبر ذلك ختماً للقرآن من كل واحد منهم بالضرورة .وقصدهم القراءة للتبرك فقط فيه قصور فإن القراءة يقصد بها القربة وتحفظ القرآن وتدبره وفهم أحكامه والاعتبار به ونيل الأجر والثواب وتدريب اللسان على تلاوته ....إلى غير ذلك من الفوائد ، وبالله التوفيق ) ا.هـ فتوى للجنة الدائمة (٢/٤٨٠)

**وبالله التوفيق و صلى الله على نبينا محمد و اله و صحبه و سلم**

حمدالله "شاكري" غفره الله و لوالديه و لجميع المسلمين
دارات الاسلامي – الاكاديمية الاسلامية العالمية

*Download From; Aghalibrary.com*